کاڼا

د (۲۳) کال (٤) گڼه

زمونږ خوا خوږی

ټولواک

د یوه عارض عرض اوری

او پوښتنه

ترې کوی

* * *

دثور ۱٦
۱۳۳۲ش

۳۳٦

د اصلاح فکر

هر څوك غوري کوی ، هر څوك چیغی اوناري وهی ، هر څوك اخبارونه ډکوی ، په هر ځایکښی دقوم اووطن له غمه ناری سوری دی ، هر چېری دصداقت اورښتیا خبری دی. په هره ټولنه اوهر مجلس کښی شور اوزوګ دی . څوك وایی وطن وروسته پاتی دی ، څوك وائي بی کاری ډېره ده څوك وائی کار نه کیږی - ځینی وایی غولونه او تېر ویستنه زیاته ده .

یو وایی په فلانی ځایکښی فلانی سړی ناپوه او نالایق دی . بل وایی فلانی بی تجربی دی ، یو بل لاوائی هغه بی علمه دی .

یوه ځای ته چه غوږ ونیسو وایی : هغه یو نه پوهیږی ؛ هغه بل تیز او بی احتیاطه دی هغه یو نیمګړی او لنډ فکری دی ؛ او هغه بل درخت تقاضا نه پېژنی بیا چه بل ځای ته غوږ ونه ورنزدې کړو وایی : هغه یو چاپلوس او خوشامند ګردی حق پټوی ، ډارن دی ، په شخصی ګټی پسی ګرځی ، دټولنی خبر نه لټوی ، ځان ساتی ، چوکی ساتی ، دقام غم نه خوری ، دخپل ځان هوسائی غواړی او دا کوی او هغه ....!

غرض داچه هر ځای دخبرو اترو مجلس ګرم دی غوري دی ، خبری دی ، اتري دی ، قصي دی ، افسانی دی ، لانجی دی ، کشالي دی نه دشکایتو نومزی لنډشول او نه د شکایت دلیری کولو تناب وشلېده . ښه بو ددې قصو ، خبرو اترو او ګیلومانو څخه مطلب څه دی ؟

که مطلب کار کول وی نو ښایی چه په مینه او ګډه سره کار وکړو دخاوری او وطن دلوړتیا دپاره شریك کوښښ او زیار وباسو ، دډېرو خبرو ، تنقیدونو ، اعتراضونو او بحثونو سلسله بری کړو وبه ایمانداری . صداقت او اخلاص دیوه ملی هدف دپاره زحمت وګالو او ښه کار وکړو . (رشتین)

June

د۱۳۳۲ کال د ثور (۱۶) د۱۳۷۲ کال د شعبان (۲۲) د۱۹۵۳ کال د می (۶)

ش ق ع

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

ادبي اجتماعي تاريخي مجله

...

کتونکی : صدیق الله رشتین

د پښتو ټولنی لوی مدیر

...

چلوونکی : نور محمد «پوونده»

336

ددې ګڼې لیکنې

لیك	لیکوالی	مخ
زه په جلال آباد کښې	ښاغلی خان محمد ایوب خان اخکزی	۱
ملنګ جان	« بختانی	۵
دوبی اوپاچا	« ننګرهاری	۱۰
سوال لجواب	د « سیفی ترجمه	۱۲
سلطان شهاب الدین غوری	ښاغلی ثابت	۱۷
ای دپښتو مینه نو	« میرزی	۲۰
دپښتو لغات په پارسی اواردو کښې	« رښتین	۲۲
ژبړ ګل	« شفق	۲۷
نقش دوینو	« دوست شنواری	۲۸
مالره	« فتیل	۲۹
اخلاص	« نورعلیشا	«
دپسرلی مشاعره	« رشتین	۳۰
ای پسرلیه !	« ننګرهاری	«
حسن تازه ګی ده	« دردمند	۳۲
پسرلی	« سیال	«
دمین پسرلی	« ع ، پرهیز	۳۳
دنسیم پیغام	« پکتیانی	۳٤
عجیبه فلمونه	« جرار	۳۵
دپسرلی اسرار	« بینا	۳۵
پسرلی شو	« بختانی	۳٦
پسرلی ناره	« پسرلی	«
نندارهٔ هله ...	پیغله مستوره	۳۷
که په سرو منګلو	« ستومان	«
هله به پښتونه ...	« میرزی	۳۸
پوره نشوه ...	میرمن حمیده	«
پسرلی اوآزادی	ښاغلی چمبیلی	۳۹
ښه نسیم لګیږی ...	« سیدوفا خوږیانی	٤۰
سور کفن ...	« شاهمرد ملیا	«
دشیدا دیوان	دښاغلی بینوا په تصحیح اوتدوین	٤۱

ښاغلی خان محمد ایوبخان اڅکزی

زه په جلال آباد کښی

داخوو تاسو ته ښکاره ده چه یو څوك دسفر عزم وکړی نو څو ورځی ترمخ د کور هر هر شی غیر مانوس ورته ښکاره کیږی او هر هر شی ته د حسرت په ستر ګو ګوری.

زه هم دغه شان وم چه هر وخت او هر ساعت دافکر را دامنګیر ؤ چه څه به وړم، څه رنګ به ځم، څو ورځی به کوم. ګویا دغه رنګ فکرو پریشان کړی وم چه آخر دیکشنبی په ورځ دهغه تحریری هدایت په موجب کوم چه پر ټکس باندی لیکلی ؤ پراتو بجو دسهار اوسهار دکابل دداوی سهار چه سړکو ه دښیښی په شان ؤ اودسبا دباد اثر اګرچه په ظاهره غیر محسوس ؤ مګر په باطن کښی دمیری دخبرو په شان ئې دسړی مخ و رسوراوشین کاوه د سرویس ځای ته را ورسیدم. پرلاری دا خیال را دامنګیر شو چه شاعران چه د صبا باد دومره ستایی، هغه دکوم سبا باددی، دشمالی قطب دسبا باددی، او که د جنوبی قطب دسبا باد، د جلال آباد داوړی دسبا باددی او که دکابل دژمی د سبا باد. که یو شاعر یاشاعر نما انسان دسبا دباد پر حقیقت او نوعیت باندی یو څه شاعرانه او ادیبانه رڼا واچوی بی ځایه به نه وی مګر داخیال به ضرور ساتی چه قلم به دسبا دباد ترنو عیت او وضاحت پوری محدود لری. که نه خطره ده چه دسبا دباد په تعریف او تفسیر کښی قلم یو ځل بیا دایوب په تکفیر کښی ادبی اوشاعری رنګ آمیزی وکړی.

دودل بودن درین ره سخت تر عیبی است سالك را

خجل هستم ز کفر خود که دارد بوی ایمانی

خیر خو سرویس ته راغلم، ګورم چه نه د مسافرانو شورو وغوغا شته اونه دکارکنانو دارو ګیر، خیال می راغی چه ساعت دې غلط دی، سرویس روان شوی دی، فوراً قبائلو ته ورغلم او دسیال سره می ساعت اووخت مقابله کړ ګورم چه زما ساعت دسیال صاحب دساعت سره په سیالی کښی بیخې برابر ؤ آخر وروسته له څیړنی دا څرګنده شوه چه دسرویس دکار کوونکو دا دود دی چه وائی یو څه او کوی بل څه. زما رفیقان ښاغلی بینوا صاحب اوښاغلی ګران صاحب هم را ورسیدل او نور مسافران هم په ډیر ډاډ سره دخپل دنیاوی شان سره وړ څوك په موټرو کښی، څوك په ګاډیو کښی اوڅوك پلی را رسیدل. سرویس پر نه نیمو بجو د تګ اعلان وکړ. پرلاری سرویس د ډرایور دمخصوص او «بالائی آمد» له پاره هر ځای دریده او مسافران به راختل اوډرایور سره به په مخ کښی کښیناستل اوڅرنګ به چه کښیناستل یو نظر به ئې دشا پر مسافرانو باندی په داسی حال واچاوه، ګویا هغه ټول دده غلامان دی. مونږ رفیقانو سره وویل چه کاشکی مونږ هم درسمی ټکس اخیستلو پر ځای دغیر رسمی ډرایوری طریقی مسافران وای ځکه هم به ترمخه ناست وای اوهم به د انداز خاوندان وای.

خیر خو په دغه رنګ درشك او کاش په عالم کښی زله او کوفته دپوست کړی شوی پسه په شان سروبی ته را ورسیدو اوپه ولاړیدو او پرځیدو دهوتل خواته روان شو، هوتل دمکانیت په لحاظ اګرچه عالی شان ؤ، مګر دانتظام په لحاظ دمحشر مظهر ؤ کوم چه په دنیا کښی دسرور کولو اودسرمایی ورکولو په مابین کښی همیشه لیدل کیږی.

دا سوء اتفاق بولیء، که حسن قسمت چه مونږ رفیقان سرمایه ورکوونکی نه ؤ بلکه یوازی

سر ورکوونکی ؤ ، نوځکه قهر درویش برجان درویش په عالم کښی خاموش تر هغه وخت پوری بی نان اوپرسان ناست وو تر کوم وخت پوری چه دسرور کوونکو دپذیرائی وخت راته اومونږ په دغه دوران کښی دانتظار دساعتو پرهغه زخمو باندی درواقیت ملهم لګاوه او دامسئله موتر بحث لاندی راوستله چه سرښه دی او که سرمایه اوپه زبان حال مو داویل چه :

هر وقت بد که روی دهد آب سیل و آن
هر نقش خوش که جلوه دهد موج آب گیر

خبر خو ډوډۍ راغله او وخوړله شوه په داسی حال کښی ډر ایور دکاروان د روانېدو په خاطر دجرس نالی شروع کړې اوداسی مسلسل ئې شروع کړې چه مونږ په دغه پوه نه شوو چه مونږ ډوډۍ وخوړله او که ډوډۍ مونږ وخوړلو ، خو میدان ته راغلو اوپه سرویس کښی پر خپلو خپلو ځایو باندی په داسی انداز کښی کښېناستلو چه تر جلال آباد پوری مونه مرګ وښوروی اونه فرنګ . آخر کار دماښام پراتو بجو دجلال آباد د هوټل په مخکښی ودرېده اومونږ ژرژر راښکته شو ، چه دریافت مو وکړ نو معلوم شو چه په هوټل کښی بېخی ځای نشته .

مونږ دانتهائی بیچارګۍ په حالت کښی پرخپله خواره برخه خاندو چه د صنف نازك هغه څوك چه مونږ سره هم سفره وه دهوټل منتظم سره په فارسی ژبه په انداز قیصری کښی داسی خبری کوی (من گنجایش و عدم گنجایش را نمی فهمم فوراً یك اطاق خالی کرده شود) وماته دصنف لطیف دغه انداز کثیف دومری دلچسپ معلوم شو چه خپله بې بسې مطلق را څخه هېره شوه اوپه دقت سره مو ددغه کثافت نما لطافت در لودنکی منظر نشیب اوفراز مطالعه کول شروع کړل ، چو ګورم یوسړی په داسی حال کښی چه بستره پر اوږو ، خولۍ په لاس کښی ، سترګی له خوبه ډکی له هوټل څخه را وویستل شو اواطاق و دغه جنس لطیف ته فوراً تسلیم شو .

مونږ رفیقانو سره وویل چه دا حقیقت دی چه سختۍ یو تربله بدتري دی ، که اوس مونږ په دغه اطاق کښی وای او ددغه جنس نازك نزله کثیف پرمونږ باندی نازله شوی وای نومونږ به څه کولای ښائی چه دشکر سجده ادا کړو که نه زمونږ به هم ددغه غریب په شانی بندې سترګی وازه خوله پریشان حال ولاړ وای .

په دغه دوران کښی پوه نه شوم چه آیا ښاغلی بینوا دهوټل منتظم په خپله بی نوائی سره متأثر کړ او که دمطبوعاتی اقتدار په طلسم ، چه دهوټل منتظم په دی راضی شو چه مونږ دغه شپه په سالون کښی تېره کړو اوسبا که هر اطاق خالی شو هغه به ومونږ ته راکول کېږی .

دابله ورځ چه مونږ ته یواطاق خالی شونورا حواله شو اګرچه مونږ په دغه اطاق کښی د جسم اوصورت په لحاظ مطمئن ؤ مګر دفکر او ذهن په لحاظ هر وخت په دغه وهم پریشان ؤ چه که اوس دصنف نازك یو داسی څوك اجلال نزول وکړی چه دما کمانه اندازهدف ئې زمونږ اطاق شی نو دمدافعت په خاطر به مونږ څه قدم اخلو آیا مقاومت به کوو او که به ځان تسلیموو . زما نظریه داده چه زمونږ مقاومت او کثافت و دغه راز لطافتو ته دغنی دتار غوندی دی ومونږ باید دعا وکړو چه یاچاریار مدد ، مګر دعا هم دغه شان چه دهجر پرځای د وصال طلبګار شو ولی چه زمونږ ددعا اثر همیشه بالعکس نتیجه ورکړی ده . لکه چه ددغو بالعکسو دعاؤ نتیجه وه چه اجناس لطیف که څه هم تلی او را تلی خو زمونږ خونه ددغه فوج له دستبرد څخه محفوظ پاته شوه .

دویمه ورځ دښاغلی الفت صاحب په مصاحبت او لار ښونه د والاحضرت سردار محمد داؤد خان په خدمت کښی حاضر شوواودنیم ساعت له ملاقات نه وروسته بیا هوټل ته راغلو .

دجلال آباد آب وهوا په لحاظ دظاهراوباطن

وماته دهغو انسانانو په شان رانګاره شو . کوم چه په لحاظ دصورت مقبول او پـه لحاظ دسیرت مکروه وی . همدغه وجه وه چه تمام انسانان ئې ضعیف او دزړګی جلبی پهشان خشك اومضمحل ؤ دپیداوار په لحاظ دجلال آباد آب وهوا که څههم دمالتو خرما او نارنجوله پاره یك سان مفید . ده مګر کثرت صرف دنارنجو دفصل ؤ . ددی علت تشخیص ما داو کړ چه ددغه ښار ودانی همیشه د ملریا پهغېږ کښی ژوند کوی او د نارنج ترشی د ملریائی بلغم له پاره پهظاهره دلپسندیده نوځکه نارنج خوښوی او زیـات ئـی لګـوی خـو ښائی دوی پـه دغه پوه شی چه د نارنج ترشی دملریائی انسان له پاره سخت زیان اری .

غرض داچه دجلال آبادیا ؤژوند دترو و او ترخو اجزاؤ څخه مرکب ؤ تریخ په دې چه هروخت دملریا پهناروغی مبتلا ؤ اوتریو پهدی چه نارنج ئې خوراك ؤ وځکه ددغو ځریبانو پهمخو کښی دبشاشت اوشګفتګی هیڅ آثار نه ښکارېده اوداسی برېښېدل چهلهدغه نعمت څخه دوی داسی محروم دی لکه تریاکی لهخوب څخه زماخیال دی چهجلال آباد دقدرت دجلال بهترین مظهردی . ولـی چهنه ئې په خلقو کښی خنده روئی شته ئې په وطن کښی خوږه میوه اونه ئې په آب وهوا کښی صحت افزائی .

خـا صاحب ملك ولیخان می هم ولید وختی چـه ومی ایـد ده دخپل پېغنی مېلمه پالنو پر بنایوه ورځ اغمان تهاوبله ورځ ښکارته بوتلم د پـاکستان له بهباری څخهچه کوم مالی نقصان دې ـ ومو دی ته رسېدلی ؤ هغودده پرمعنویاتو دمایوسی هیڅ اثر نهؤ غورځولی ماچه ددغهخان دغهښکګ عزم ولیدنومی دایقین شوچه بیشکه ولایت دولی حق دی .

خانصا حب شهزاده خان او ښاغلی وهاب خان موهم ولیدل پهداسی حال کښی چهزما پهخیال صرف دغه دوه حضرات داډول وو، چهدجلال آبـاددآب وهوادجلالی اثرڅخه محفوظ پاته شوی ؤو .

دغهرنګ می خا نصاحب حاجی محمد حسن خان هم ولید اوپهداسی حال کښی مو ولید چه هر کلی اوودا ع مونقریبا یوځای وشو، دجسم او صورت په لحاظ شګفته اوشادان ؤ نوځکه زه داو یلای شم چه دپختو نستان دخدمت دپاره یـ ههم محض دو خت منتظروی .

ښاغلی الـفت مونه داچه ولیدیلکه موصوف دالفت پهخاطر دمیلمستیا فرض هم ادا کـړ اودغه رنګ موهره ورځ ملاقاتو نه کـېدل اوپهالفت سره پهکـېدل زه داوایم چهالفت دخپلو اوصافو پهلحاظ خیل مثال پهخپلهدی اوزه داهم پهدعوه ویلای شم چه کهالفت نهوای جلال آباد به دایو بیا نوله پـاره نفرت وای .

پهجلال آباد کښی چه کـ ومشی زما توجه په خصوصیت سره کش کړههغه داوه چه کوم اجناس چهپاڅمی کښی جلال آباد نهلحی پلاامتـیا ز ددی چه کـثیف وی او کـه لطیف پوازی دتفریح پهغرض لحی اوددوی لهحر کـاتوڅخه داوماته سل پهسل کښی یقین شوچه ددوی طریقه دتفریح متعلق داوی چه هرڅه چهدې زړه غوا ړی هغهوکـړه اوهر څهچه پرخوله درځی هغه ووایه .

دتفریح پهسلسله کښی دایورته نظریهزمـا یه معلوماتو کښی دیوې داسی نوې کړی اضافه دهچهزه باید یوځل بیادتفریح پهمفهوم باندې په دقت سره غورو کـړم چهزه غلطشوی یم او کهدتفریح دانوی نظریه غلطهفایمه شوی ده ؟ زه له ښا غلواو ستونـکو څخه داهیله ارم چهدوی دی پهدغه سلسله کښی دخپلو خپلو نظریو څخه مایوه کړی که چیری زما نظریه غلطهوی نوزه باید هصرف داچه نظریه صصیح کړم بلکه آینده دتفریح متعلق دفکـ رفضول پرځای پهلحان کښی جرئت رندانه پیدا کړم .

بیلحایه پهنهوی چه دخپلو رفیـقانو متعلق هم خپل تاثرات ښکاره کړم، ماورفیقانو ملګری هم سره وکـړه او کـلوغی هم نوځکه زه دا وایم چه بینوا دطبعی خواصو پهلحاظ یقینا سړی دی مګر ددهر لهستم ظریفی اودخپلی بینوا ئی څخه دومره متاثر

شوی دی چه کله کله به ئې په انتهائی تاثر کښې د حال په ژبه داو یل چه :

ساقی به بی نیازی یزدان که می بیار
تا بشنوی ز صوت مغنی هوا الغنی

دویم ملګری ښاغلی ګران صاحب ؤ چه د خپل خدمت شعارانه او رفیق نوازانه خواصو په لحاظ پرهر چا ګران ؤ او خصوصا پر ما باندی او هم دغو ګرانمایه صفتو نتیجه وه چه مونږ ټول هم په سفر او هم په حضر کښې ډېر سپك ؤ یعنی په آرام .

د نوموړی په طبیعت دغم ګران نشینو دومره اثر کړی ؤ چه دغم د غلطیدو په خاطر زما په خیال نوموړی د خپل ژوند دا اصول قایم کړی ؤ چه :

ساقی به هوش باش که غم در کمین ماست
مطرب نگاه دار همین ره که می زنی

یو بل ملګری ؤ چه په جلال آباد کښې د پیراشوت په شان نازل شو هغه په اصل کښې محمد زی ؤ او په شغل عسکری مامور مګر په طبیعت کښې زما په خیال نه هغه ؤ نه دغه بلکه سراسر جمال ؤ او د جمالی خو بیو یو مثال ؤ انتها ظریف ؤ او عجب دا ؤ چه په ظرافت کښې ئې مطلق طنز نه وا سره له دی چه په ظرافت کښې طنز دومری ضروری وی لکه په طنز کښې چه ظرافت غیر ضروری ما ته دا لاندی شعر د دې صاحب د ژوند آینه معلومه شوه .

چهل سال رنج وغصه کشیدیم وعاقبت
تدبیر ما بدست شراب دو ساله بود

غرضدا چه د جلال آباد دوره زماله پاره هم رنګینه وه او هم زرینه رنګینه په دا چه هغه څه می ولیدل چه تر اوسه می شاید نه ؤ لیدلی او زرینه په دی چه هغه څه مې واوریدل چه تر اوسه می نه وواروېدلی .

له دولسو ورځو هستوګنی نه وروسته پر هغه سفر باندی بېرته کابل وخواته راروان شو کوم چه یقینا د یو داسی جهاد سره برابر ؤ په کوم کښې چه سړی شهید کېدای شی مګر غازی کېدای نه شی !

ښاغلی عبدالله بختانی

ملنګ جان

ښاغلی ملنګ جان

د ننګرهار په ډېر واو حجرو کښې چه سړی د ملی آهنګونو خوند وري نغمې او ترانې واوری نو ډېر وشعرونو په کسر کښې د ملنګ جان نوم اخستل کېږی په دغسې محافلو کښې د محفل په یارانو کښې ګونګوسه پیدا شی چه «ملنګ جان خوك دی؟» که د کابل راډیو په تیره بیا د پښتونستان د پروګرام سازونه واوری.

نو دلته هم د ملنګ جان نوم ډېر اوری، او دا پوښتنه کوی، چه «ملنګ جان خوك دی؟» د ننګرهار په عامو خلکو کښې چه د شعر او شاعر نوم یاد شی نو سمدستی د ملنګ نوم هم یاد ېږی او دا سوال هم پیدا شی چه: «ملنګ جان خوك دی؟» د پښتونستان د آزادۍ په لار کښې د ټولو نشراتو په لړ کښې د ملنګ جان غزلونه او چار بیتې د قدر وړ ګڼل کېږی او ویل کېږی چه «ملنګ جان خوك دی؟» دغه دی چه د «ملنګ جان خوك دی؟» په ځواب کښې ګرانو لوستونکو ته د ملنګ جان معرفی کوم او مخکښې د دې نه چه په مطبوعاتی نړۍ کښې د ده ډېر آثار نشر شی د دغه سوال ځواب وایم، ملنګ جان د ننګرهار په ملی شاعرانو کښې یو ښاغلی شاعر دی.

څرنګه چه تاسی د ده فوتو ته ګوری، په ملی کالیو پټ دی او څیلۍ په پښو کوی په پښتنی حقیقی خو یو او عاداتو متصف او یو خوش خلقه او مودب انسان دی، د کلانګارۍ او غرور دښمن دی او لا یی شاپی ئی نه خوښېږی. د هر چا احترام ساتی او د قدرت په وخت کښې هیچا پسی حتی خپلو بدخواهانو پسی هم بدې خبرې نه کوی، میانه قد او خوش قواره او دښی سبکې خاوند دی، خپلو دوستانو سره ښه صمیمیت لری او پخپله غریبۍ افتخار کوی. پخپلو اشعارو کښې د هیچا بیځایه مدح او هجو نه کوی او نه د چا د ډار او یا طمعې

لامله خه وائی نوله کهدهر چا خوهیبزی. پنځه وخته لمونځ کوی او دریا کاری دښمن هم دی. په عین رندانه کی کښې دپر خاکسار او په عین خاکساری کښې دپر مستغنی دی. د وطن په درددمند اودملت په خوږ خوږ من دپښتونستان د آزادی دلاري فدا کار د پښتون د ترقی او اعلا آرزو من دی. د حسن او جمال لپوال د ګل بلبل دشمعی پتنګ او دښکلا ملنګ دی. د نادودو او تیر بوسره مخالف، د نفاق او ګوندی سره دښمنی اوله بیعلمی سره ګوندی لری. داتی او تنبلی په مقابل کښې ښه کلکه مجاهده کوی او دپښتنی خو یو نومبلغ دی. دالحکه چه شاعر دی او ناسي پوهیږی، چه شاعر باید دغسی انسان وی.

زه پوهیږم چه تاسی بیاهم دې ته لپوال یاست چه نور تشریحات هم ورکړم او دشاعر دشخصیت په دغه معرفی باندې کفایت نه کوی، بیاهم وائی، چه «ملنګ جان څوك دی؟».

ولحکه زه لحان مجبور کنم چه دده دژوند ته څه هم تاسي خبر کړم.

دی یو (۳۷) کلن زلمی دی یعنی په (۱۳۳۵) هجری قمری کال کښې دنیا ته راغلی دی، پلار ئې دبهسودو له معزز ینو څخه ؤ او نوم ئی عبدالشکور خان ؤ - مور او پلار یه ده بادي د (امین جان) وم کښې پوده، دافصه چه دی چا ملنګ کړ وروسته اوسنلای شی! ددوی کور دچمیار یه کلی کښې ؤ او یه ۳ کلنی کښې ده دیتیمی خپره، یه خپل نازك مخ وخوږله - یه دغه وخت کښې ددنه دپلار جائداد اوشتمنی دمحیط دناوړو پیهوا او ګوندیو نه قربان شوی ؤ اوددغه غریب یتیم او دده دوړو وروڼو اوضعیفی مورهیله اواسره یواري دخدای دربارته وه ددوی ددغه وخت دژو فدانه معیار نه پوهیږم چه تاسی تا کلی شی، که نه؟ خوددوی کورنی درزق یه تلاش دچمیار د کلی نه د (پیرود) قریې ته نقل مکان وکړ اوهلته (دچارمسره) یه کلی کښې یه خواری، مزدوری بوخت شول. ترخوچه پنځلس کلن کیده دکما نو یه بولو او یاد. وانی جا ا ه وانـی اویه نورو غریبیو ئی خپل ژوند وساته. پس دهغې نه دکما مي د (دار بنګ) کلی ته ولاړ اوهلته ئی غریبی کوله - یه دغه لحای کښې دی ملنګ هم شو - هو! دی څنګه ملنګ شو؟

یه دغه لحای دده دپلار دپر آشنایان ؤ، دهغه دپر صفتونه ئی کول اودده اودده دوروڼو یه حال یه ئی تأسف کاوه دی قیصي دده یه احساساتو کښې یوشور پیدا کړ ددغه شور ابتدائی مراحل ؤ چه یوه پلسه قیصه هم پیښه شوه، هغه داده چه یو ورځ د دخپل بادار غویا ته وانه کول اوسهواً دخپل بادار دتره زامنو یه یتی کښې ئی وانه وکړل دیتی خاوند چه راغی دی ئی وواهه اودپلار کنځلو ورته وکړه دي وهلو اویه دو ویلو دده زړه لازخمی کړ غم، خپګان اوژړائی زیاته شوه خوچه یه شعر بدله شوه. دمحیط دتاثیراتو سره سم ئی دشعر یه کسر کښې خپل نوم نشواخستی نولحکه د «امین جان» یه لحای ئی «ملنګ جان» یکښې استعمالاوه د دغې واقعې نه شپږ میاشتې وروسته بیرته دبهسودو (چمیار) ته راغی اودلته دیو نیم کال نه وروسته ویژندل شو. وروسته ددې نه یو کال دجلال آباد دامنې یه قوماندانی کښې نوکر شو او بیا دیخوانیو ګوندیو یه سلسله کښې بندی شو. یو کال او او میاشتې وروسته آزاد شو اودوه نیم کاله د کونړ یه حکمرانی کښې سپاهی ؤ او بیائی دچمیار یه کلی کښې مزدوری او دهقانی کوله یه دغو ټولو مودو کښې یه ئی شعرونه ویل او یه شعرو کښې ئی دزړه دردونه ښکاره کول اوخپل حال ئی یکښې ترسیماوه. یه ۱۳۲٤ کال یه جلال آباد کښې دوالاحضرت سردار محمد داؤد خان له خوانه تقدیر اوتشویق شو دغه وخت ئی دوطنی ترانو یه ویلو لاس پوری کړاو ښاغلی مولانا سیفی یه اتحاد مشرقی کښې دده ترانی نشرولی.

کوم وخت چه بیا دپښتونستان د آزادی غږ جګ شو ده یکښې یوره برخه واخستله او ښه تبلیغات ئی وکړل یه ۱۳۲۹ کال دغازی والاحضرت له خوانی فدروشو اویه کال کښې شپږ سوه افغانی مستمری معاش ورته مقرر کړی شو. اوس ددوی کورنی بیرته (پیرود) ته نقل مکان کړی دی اوهلته ئی دهقانی

نیولی ده. دده سوانح دبیوزلتوب اوغریبۍ یوه زړه وړونکی ډرامه ده په دغه اور کښی لکه دسرو زرو ویلی شوی اوچاندی شوی دی. دبیکسۍ اوغریبۍ له لاسه دده قوی استعداد نه دی روزل شوی اودتعلیم فرصت ئی نه دی موندلی نوځکه خلك ورته بی سواده وائی او زه ورته نه بی سواده ویلی شم نه با سواده !.

ځکه چه دا سړی بالقوه دډیر لوړ استعداد خاوند دی اودا چه نه دی روزل شوی دا به دده گناه نه وی. اوهم یوځه درس ئی لوستی دی اوځه خط ئی هم یاد دی - کوم وخت چه دی بندی ؤ په زندان کښی قرآن شریف شروع کړاو په نهو ورځو کښی ئی په قرآن شریف کښی پخپله سبق جوړاوه اودنهو دېرشو ورځونه وروسته ئی قرآن شریف ختم کړ.

په ۱۳۲۸ کال کښی ئی په شپږو ورځو کښی دومره د پښتوخط یاد کړ څومره چه دنن ورځی دمکتب دشپږم ټولگی دفارغ التحصیلا و یاددی. اوس نوستاسی خوښه چه دی باسواده بولیء که بی سواده؟ دی هم پخپله بی علمۍ باندی ډېر متأثردی او نورو پښتو ته دعلم اوتحصیل توصیه کوی خو دده نه هم دخپل تعلیم مسئول سړی ورك دی ځکه چه دپلار نه یتیم پاته ؤ اوددې خبرې محاکمه ئی قیامت نه حواله کړی ده:

وختې چه محروم له علمه زه ملنگ جان پاته شوم
بندبه وی قیامت کښی زما لاس دچا گریوان سره

اوس به تاسی ته دده ملنگ جان څوك دی؟ په ځواب پوه شوی ئی که بیا هم سودامو وتلی نه وی اوغواړیء چه ضروردی وگوریء نوفعلی پته ئی درښودلی شم- دی په دې ورځو کښی په کابل راډیو کښې دپښتو موسیقی دمنتظم په حیث مقرر شوی دی.

اوس به نودده داشعاروځینی نمونی ستاسی حضورته تقدیم کړم.

یوه بله خبره هم کوم چه دده داشعارونه پوره خوند هلته اخستلی شیء چه دننگرهار له موسیقی سره ئی واوریء !-

خصوصا لاندی خوند وری نغمی ضرورچېر ته واوریء

غزل

دخو با نو په محفل — نه خارج شوم نه داخل
خو په غیر د درد دل — نور می هیڅ نه کړ حاصل

❀ ❀ ❀

دآشنا کبر و کینه — دا غوی می په سینه
په علاج می نا علاج شو — افلاطون د زمانه
که له درده ئی فریاد کړم — بی نیازی دآشنا یاد کړم
بی ننگی به شی یادگار — په دنیا کښی تل تر تل

❀ ❀ ❀

نه می سود شو نه می زیان — په اور سوزم دهجران
اوښکو یوو ړ مخ په ښکته — زما تور کی د چشمان
نه رغېږمه نه مرمه — دهجران څپېړی خورمه
خدای دی نه کړی په داشان — خپل آشنا د چا قاتل

❀ ❀ ❀

په ډېر نازو نزاکت — کـله وی عیش وعشرت
په تاثیر ئی نه پو هېږم — کـله حال شی دقیامت
هم مرض دی هم علاج دی — خود ښکلو د ارواج دی
په تاثیر د تور چشمان — گـرفتار ئي کړم په سل

❀ ❀ ❀

نه دانا شوم نه نادان — نه دیار شوم نه دلحان
مذ بذب یم تر کـله؟ — لوغړن زه ملنـگ جان
باره ستاد عشق زور دی — دعالم راته پېغور دی
چور لوی مي هر زمان — ستا ددوستر گو ماسل

❀ ❀ ❀

دا بل غزل ئي هم دسوزو گداز نه ډک دی او ډېر ښه آهنـگ لری :

مالحان تسلیم کړ تانه هردم وآئیم چه ستایم
نه وائي زما ښه ئي ـــ نوزه وا یه دچایم
چه زه دي رانه وبوړ نور لحوي می کالبودولی؟ — مجنون دي رانه جوړ کړاوس مي نه کړي بهبودولي؟
هرخوك چه مي حال گوری قایل دتماشایم
نه دا قرباو یه تولی کښه ي شـوم داخـل ما مه دي د در گاه — یه غلامانو کـښي شامل
یخیل در ومالت کښي پردیس اوا آشنایم
یو خ وانه دستا مانیجن خوی مي پخسوی — بـل خوانه می پسخند در قیبانو سـ و لحوی
آفریـن شه ما له چه زه لاژوندی پایم
راحـت نه پېژنـم چه خه نه وائی په جهان — یـوبل نـه اوریدلی دانش نوم ما ملنـگ جان
تـل خورم دغم خپړي همدي له به پیدایم

دائی درباعیاتو نمو نې دی :

(۱)

زه په دي دنیا مانی او سامان خه کړم — مسافر د پنځو ورځو بوستان خه کړم
چه مي بود وباش دعمر یکښي نه وی — یو ساعت د پاره زه گـلستان خه کړم
که مشرق نه تر مغر به ملك زما شی — آخر پا نه دی دا پاته جهان خه کړم
که محل مي ټول داعل و دمرجان شي — لحمه خاورو اره اعل و مرجان خه کړم
زه عاصی ملنـگ جان دغه غم کښي ژاړم — رب چه سوال و کړی لحواب به دلحان خه کړم

(۲)

چه بی ننـگ او بی پښتو وی پښتون نه دی — چه د قوم په شرمېدو وی پښتون نه دی
پښتون هغه دی چه غم د تمام قوم خوری — چه دلحان په جـگېدو وی پښتون نه دی
د پښتون نظر مدام په ننـگ و نام وی — چه نظر ئي په بیسو وی پښتون نه دی
پښتو ن هر کـله طالب د خیل شرف دی — چه طالب دسپینو سرو وی پښتون نه دی
پښتون تل پخیله ژ به تینـگ و لاړ وی — چه په دروغ ئي گـفتگو وی پښتون نه دی
پښتون نه شی باداری د چا منلـی — چه اختیار ئي دبردو وی پښتون نه دی
خوزما ملنـگ جان برخه دامسری شوی — چه خپه په دي مسر و وی پښتون نه دی

په دي »لوبه« کښي د پښتنی ننـگ ښه درسونه پراته دی :

ای پښتو نه لږ همت درته په کار دی که نه دی — بوټ پاکی اومربی توب پښتون ته عار دی که نه دی

❀ ❀ ❀

ای پښتونه پښتنی مور ز ینږ ولی ئی که نه ئې — په ځانګو کښې دغیرت ئی ځنګولی ئې که نه ئې
دښمنانو نن په سپك نظر کتلی ئې که نه ئی — غفار خان په جیلخانو کښې خوارو زار دی که نه دی

❀ ❀ ❀

ای پښتونه ته اوه میلونه کور ئې که نه ئې — دچترال بلو چستان پورې یو ور ور ئې که نه ئې
که را ټول شې دتمام جهان دزور ئې که نه ئې — خو په کوردې د نفاق ګردو غبار دی که نه دی

❀ ❀ ❀

ای پښتونه سك، هندو، یهود آزادشو که نه شو — ستا حقوق او استقلال وایه بر باد شو که نه شو
ماشومان دې چارسده کښې په فریاد شو که نه شو — ملنګ جان غریب ددې غمه بیمار دی که نه دی

په لاندینۍ «چاربیته» کښې پښتانه کار، فعالیت اوپوهی ته را بولی،

پښتونه و ګوره دنیا کښې نور عالم څه کوی — ستا په کاله کښې دغفلت جبرو ستم څه کوی

❀ ❀ ❀

حال دې خراب شو په سستۍ او په غفلت پښتونه — څه خو په کار دی نارینه لره غیرت پښتونه
په ناراستۍ کښې عافیت وی خجالت پښتونه — څوك چه بېدار وی دداړې هلته ماتم څه کوی

❀ ❀ ❀

په خوب ویده ئی ځان بېدار کړه نور عالم وګوره — مېوې دعلم په دنیا رقم رقم وګوره
سمند دعقل په هوا اینې قدم وګوره — زمونږ په مخکښې ګودمرکب ضعیف برهم څه کوی؟

❀ ❀ ❀

ږیره دې سپینه شوه دعلم محبت و کړه ته — دستا نه تېر یم خپل او لاد ته نصیحت و کړه ته
دآئنده نسل دپاره څه خدمت و کړه ته — علم ته زده کړه دعالم په کور کښې غم څه کوی

❀ ❀ ❀

دبی علمۍ په تبه پروت یمه کړېږمه زه — ځکه مجبور یم مجبورۍ نه نه خلا صیږمه زه
دباندنی خلکو کمال ګورم ژړېږمه زه — په ګرېوان څاڅی ملنګ جان دستر ګونم څه کوی؟

❀ ❀ ❀

په پای کښې دده یوغزل دپښتونستان په باره کښې ولولیء!

اصیل پښتون پښتونستان خوښوی — چه پښتون نه وی پاکستان خوښوی

❀ ❀ ❀

پښتون پښتو پسی ځی — بی ننګ پیسو پسی ځی
شریف شرف رذیل غران خوښوی
یو خوا شریعت دنبی — بل خوا قانون اجنبی
مشرك قانون، مسلم قرآن خوښوی
هند وکړ جوړ هندوستان — هم شوو آزاد یهودان
پښتانه ځانته خپل نشان خوښوی
د آزادۍ په مینه — چه سر بازۍ له ځینه
ملنګ جان هغسی خانان خوښوی

داد ملنګ جان داشعارو نمونه وه که نورې نمونې غواړی، نودده له شاګردانو نه ئې په تېره بیا داسلم بهسودوال او ګلالی بهسودوال نه ئې دپښتو موسیقی سره واوریء اویا دکابل مجلې او دزیری دجریدې راتلونکې ګڼې تعقیب کړی، دده ځینی شعرونه به پکښې ولولیء!



دپښتو کنایات

ښاغلی ننګرهاری

دوبی او باچا

باچا سهار وختی سترګې له خوبه ومنږلې اوله کنګالۍ کولو وروسته ئې دتفریح د پاره خپل خاص نوکرته داس دزین کولو امر وکړ .

باچا په اس پښه واړوله او د باچا دامر سره سم دده ښایسته او ګلالی وزیر هم په اس زین کېښود .

دسهار په خړه کې ددوی دغشو اولبندو استاځو دډېرو «سویو» سیسیو، زرکو او نورو ښکاری حیواناتو ته دسحرخیزۍ پیغام ورساوه - دښکار دجذبې دسرښت نه وروسته دګلانو او کبو دننداري اوتماشې بازار هم په ډېره ګرمۍ او دلچسپی وچلید اولکه دسینما دفلم دیوې رنګینې پردې غوندې تېرشو .

دباچا اووزیر دلاندې اسونه هم دنورو حیواناتو په طبقو ځانونه باچا اووزیر ګڼی اوله ډېره خیاله په لاره په دوه پښو روان دی .

باچا دخپل وزیرنه په زړه کې لږ څه غوندې مانېجن دی مګر دلرې کولو یاماتولو اراده ئې دیو واضح ثبوت ور کولو پورې معطله ده .

ددې خپګان اومانې دلیل داؤ چه باچاله حده زیات هوښیار، نکته دان، زود رس، اشارت فهم ؤ اوپه نیمه خبره لاڅه چه دنیمې په نیمه هم پوهېده مګر افسوس چه وزیر صاحب په شان شکل، کړه وړه ډول ډال ، سیکه او قد وقامت کې بې جوړی ؤ خو دغره قدر غټه اودلمر هومره واضحه خبره هم دده فکرته ژرنه پرېوته، اودعقل اوتمیزدې فاحش تفاوت دباچا په زړه کې خبری اوخنډ پیدا کړی ؤ دچمن او ګلشن دسیر اوتماشانه پس باچا دخپل مشکی اومست اس مخه دسیند دمستو چپو خواته وګرځوله اودسترګو په رپ کې دلوخو دهغه ګڼ ځنګله دمنځه ووت کوم چه په یوه اوږده او پلنه جبه کې اوړی، ژمی ولاړ ؤ .

باچا له خپل وزیره سره دسیند په غاړه غاړه راسم شو اودژمی دسیند په شنو اوبو کې دسپینو چپو تصادم اویوبل سره دټکر خوړلو ننداري ته ځیرځیر روان ؤ .

په یوه لرې ځای کښې دباچا ښکار زنې او نظر بازې سترګې په یوه وینځو نکی (دوبی) ولګېدې چه په ډېر مشکل جامه پور ته کوی اوپه تخته ئې وهی - اول اول خو دباچا زړه دوینځونکی دضعف اولږ زورۍ نه خوړیسن او خپه شونو ځکه ئې اس دتفریح دطرز رفتارنه لږ ګړندی کړ مګرچه کله دوینځونکی خواته نژدې شونو دوینځونکی سپینی ږیری اوپه دې ساړه ژمی کی دې کارته دده احتیاج دباچا په سترګو تباره راوسته اوله روغ بړ کولونه وروسته ئې په ډېره مهربانۍ ومینځو نکی ته وویل :

دادرې دې په نهو کې نه تیر ېږی ؟
وینځونکی : نه قبله عالمه ! .
باچا : خطا کړې دې ده !
وینځونکی : بلادې واخلم ویشتلې مې ده !
باچا : خطا کړې دې ده !
وینځونکی : صاحب ویشتلی مې ده .
باچا : خطا کړې دې ده .
وینځونکی : حضور ویشتلی مې ده .
باچا : خطا کړې دې ده .
وینځونکی : باچا ویشتلې مې ده .
باچا په خنداد خپل وزیر خواته وکتل او وینځونکی ته ئې په خندا خندا وویل :
درمې کړه چه ارزانه ئې خرڅه نه کړې !
وینځونکی : ډېره ښایسته ونه ده .
باچا : ښایسته ده خو میوه نه بیسی .
وینځونکی : خو وئې باسه چه دوه شی .
باچا خپل اس پونده کړه او وزیر هم وریسې په تراټ خوشې شو دوزیر په زړه کې سودا پاتې شوه اودا ځکه چه دې غریب ګوټی په کنایاتو او مجملاتو هډو هېڅ نه پوهېده .

نوچه کورته ورسېدل باچا فوراً وزیر را وغوښت اوترې پوښتنه ئې وکړه چه : ماله وینځونکی سره څه وویل اودهغه دخبرو مطلب څه ؤ ؟ ؟ که مرې او که چوې ددې خبرو اترو معنی درته غواړم وزیر دباچا په پښو کې سر کېښود او دباچا دپښو خاورې ئې ښکل کړې اوپه ډېرعجز و نیاز ئې ترې څه مهلت وغوښت .

باچا مهلت ورسره ومانه خو په دې شرط چه له وینځونکی به ئې نه زده کوی وزیر خوبل درک نه لاره نو په منډو منډو دوینځونکی ځای ته راورسید اودستی ئې دوبی ته وویل : « ته هغه دوبی ئې چه سهاردې دباچا سره خبرې کولې » دوبې په ډېر حیرت اوتعجب وزیرته وکتل اوورته وئې ویل : « داڅنګه خبرې کوې نېشه خو به نه ئې ؟ دې ځای ته ګوره او دباچا را تلوته ګوره اوبیا زماغوندې غریب وینځونکی سره خبرې اترې کول ؟؟ » وزیر وویل دخدای په خاطر ځور وه مې مه خوته دې خپل لونګی پټکی واخله نور نوڅه غواړې ؟ دسپین ږیری وینځونکی زړه هم نری ؤ دوزیر په حال ئې سوی وکړ مګر دومره پیسې ئې ترې واخستې چه دکلیوالو په اصطلاح « ښکاره ئې ترې واخستی اودپټې ئې ورته قسم کېښود »

وینځونکی وزیرته دخبرو اترو معنی داسې شروع کړه « چه زما په حال دباچا زړه وسو نوماته ئې ویل چه ته په دې نهو میاشتو کې دومره څه نه شی ګټلی چه دادرې میاشتې ژمی دې یکې هوساتیر شی ؟ نو ماورته عرض وکړو چه نه ! نوهغه وویل چه واده به دې کړی وی نواوس به دې ځلمی ځوی وی هغه به ژمی مزدوری کولای - ماوویل چه واده می کړی خوفارینه اولادنه لرم - نوهغه وویل چه بل بل یعنی ترڅلورو پورې ودونه به دې کړی وی - نوماورته وویل چه څلورمی کړی مګر بیاهم ځوی نه لرم - باچا وویل چه وزیر په دې خبرو نه پوهېږی اوزه ترې ددې خبرو معنی غواړم نو ضرور تاله راځی خو ګوره چه ددې خبرو معنی پرې ارزانه خرڅه نه کړې ښی ډېرې پیسې ترې واخله.

نوماوویل چه ډېر ښایسته سړی دی پوه شوی به وی.
باچا وویل چه عقل نه لری .

ماورته بېرته وویل چه دی موقوف کړه - نو یو خوته دوزیر هومره هوښیار اوپوه ئې اوچه بل وزیر هم دده په ځای مقرر کړې نودوه وزیران به شی.

وینځونکی چه وزیر ته دخبرو اترو معنی وکړه نودخپلې موقوفی خبره پرې ډېره بده ولګېده مګر بیاهم دباچا له حضوره دده مهلت لږ ؤ اووینځونکی ته ئې ډېر کنځل ونه شو کړی .

په منډه منډه دبادشاه دربارته راغی اوعرض ئې وکړ چه :

حضور ! داسې خبرې ډېرې اسانې دی زه غټغټ کارونه کولی شم ستا سې دخبرو معنی خوداده ډېره اسانه ده .

باچا چه خبرې اترې واورېدې نوپوه شو چه له وینځونکی ئې زده کړی دی نوفوراً ئې دی مات کړواوددې حقیقت په اعتراف کې ئې وینځونکی خپل وزیر کړ چه « داولس په ټیټو اوغریبو خلکو کې هم ډېر جګ اوعالی دماغونه وجود لری »

دبناغلی «سیفی» ترجمه .

سوال او ځواب

س :- په تنقیداو تبصره کښی کوم فرق شته ؟

ج :- هو ؟تنقید دنکته چینی او تبصره دیوشی په خصوص کښې درایې او نظریې ور کولو نوم دی .

س :- په قول او فعل کښې کومه رابطه شته؟

ج :- فعل دعمل نوم اوقول دتشو خبرو نوم دی .

س :- دانسان دژوندانه مقصد کوم شی دی، اودی په دغه مقصد کښې تر کومې اندازې کامیاب دی ؟

ج : دانسان دژوندانه حقیقی مقصد دانسانیت سرلوړی کول دی او کوم خلك چه ددغه حقیقی مقصد د ترسره کولو دپاره زیاروونه کالی دهغو ژوند کامیاب دی، او کوم خلك چه دژوندانه دغه جګ او حقیقی مقصد ترسره کول نه غواړی دهغو ژوند ناکامه دی .

س : -ښه ! نوچه ښځه یو چیستان او نارینه یوه معمی شوه نوددې حل کوونکی . ؟

ج : - په دې نوې بهیر کښې نه ښځه چیستان او نه نارینه معمی ده .

س : - مرګ انسان ته په کوم وخت کښې راځی ؟

ج : - شریف او ننګیالی انسان ته دننګ او غیرت په وخت کښې او بې ننګو ته په ..... کښې .

س : - په انسانی صفاتو کښې ډېر جګ صفت کوم دی ؟

ج : - دیانت او صداقت .

س : - ادب دادب او که ادب د ژوندانه دپاره، ته د کوم یو فکر طرف داریې ؟ او ولی ؟

ج : - ادب دژوندانه دپاره - او داځکه چه په نړۍ کښې هر شی د انسان او د انسان دژوندانه دپاره دی .

س : - خلك دیو بل سره ولی مینه کوی ؟ آیا په نړۍ کښې یرته له مینې څخه بل کوم یوشی نشته ؟ .

ج : - که په نړۍ کښې مینه نه وی نو د نړۍ څخه به یو دوزخ جوړشی لیکن دمینی څخه زمامطلب جنسی مینه نه ده .

س : - ژوند په ښځه او اولاد خوږ یږی او که په مال او دولت ؟

ج : - ژوند یوالحی په ښه ماحول خوږ یږی او بس ،

س : ـ دننی عصر په ځینو انسانانو او حیواناتو کښې کوم فرق شته ؟

ج : ـ هو ! دومره فرق شته چه لومړی مهذب او دوهم غیر مهذب حیوانات دی.

س : ـ انسان چه دمور څخه پیدا کېږی نو لڅ وی اوچه مړشی نو په کفن کښې ئې نغاړی داولی ؟ ـ

ج : ـ ځکه چه لڅ تیا دانسان فطرت او ځان پټ ساتل دانسانیت تقاضاده .

س : ـ په نړۍ کښې انسان په کوموشیانو د جګ او ښه نوم او عزت خاوند کیدلی شی ؟

ج : ـ په جګو او ښو اخلاقو او ښو کارونو او په دې چه په پاك نیت د خدای دمخلوق خدمت وکړی .

س : ـ په مکتبونو کښی دهلکانو او نجونو یو ځای سبقونه ریل څنګه دی ؟

ج : ـ ددې دواړو ګډ او مشترك تعلیم داجتماعی صحیح ژوند دبربادۍ مهم عامل دی .

س : ـ دښځې په ژوندانه کښی ډېره لویه خوشحالی کوم شی دی ؟

ج : ـ دهغې واده .

س : ـ هغه کوم شی دی چه دهغه په حاصلولو او لاس ته راوستلو پسې هر څوك سر ګردان دی ؟

ج : ـ دولت .

س : ـ دانسان دژوندانه مهم مقصد کوم شی دی

ج : ـ په نړۍ کښې دامنیت او دخوشحالۍ دساتلو او ټینګولو دپاره کوښښ کول.

س : ـ زما تعلیم نیمګړی دی او مور او پلار مې واده کولو ته مجبور وی نو زه څه وکړم ؟

ج : ـ ته خپل تعلیم پوره او ترسره کړه او دې نه وروسته واده وکړه. لیکن خپل مور پلار هم په ډېر احترام او ښه وضعیت ددې کار په نقصان پوه او هغوی دغه حقیقت ته ملتفت کړه .

س : ـ چه په انسان له هری خوا دغمونو او مشکلاتو توری تیارې راخپرې شی نو..؟

ج : ـ دټینګ عزم او پخې ارا دې او استقلال ډېوه دې بله کړی .

س : ـ انسانیت په څه خوشحا لېږی ؟

ج : ـ په دې چه دیو انسان څخه انسانیت پالونکی اعمال وګوری .

س : ـ ښځه دخاوند په نظر کښې په کوم وخت کښې بده ښکارېږی ؟

ج : ـ په هغه وخت کښې چه داخپل عفت ورك او برباد کړی .

س : ـ مینه څو قسمه ده او کوم یو قسم ئې ښه دی ؟

ج : ـ مینه ډېر قسمونه نـه لری او فقط یوقسم لری چه هغه فقط او فقط بې غرضه مینه ده او بس .

س : ـ د انسان پـه ژوندانه کښې غټه کامیابی په کوم وخت کښې وی ؟

ج : ـ په هغه وخت کښې چه په ناوړو چارو غالب شی او خپلی ورانې چارې بـیرته سمې کړی .

س : ـ نجونه دخپل مستقبل دښه کولو دپاره باید څه و کړی ؟

ج : ـ باید د آزادۍ او بې معنی فیشن کولو دجذ باتو څخه صرف نـظر و کـړی او د کور دچارو دسمون په زده کړه کښې داسی زیارو باسی چه دهغې په اثر د خپل کور څخه دجنت نمونه جوړه کړی

س : ـ دانننی ځلمی د حسن او عشق لـو به ولی ډېره خو ښوی ؟

ج : ـ دا کـار ددوی دغلط تعلیم نتیجه ده'

س : ـ په عبادت او رحمت کـښې کـوم فرق شته ؟

ج : ـ هو ا عبادت دپاك خدای دامـر پـه ځای کولو نوم دی او رحمـت دپـاك خدای دنعمت نوم دی .

س : ـ دښځی او ښځی ولې ډېر قیمتی شی ګـڼلی کېږی ؟

ج : ـ ځکه چه ښځه مور ده '

س : ـ ته لنه په څه لوړ یږی ؟

ج : ـ په دیانت داری او انسانیت پالنه.

س : ـ انسان دانسانیت له در جې څخه په کوم وخت کښې را کښته کېږی ؟

ج : ـ په کوم وخت کښې چه دحیوانیت ژوندون غوره کړی .

س : ـ نن ځلمی په تعلیم یافته نجـونو او نجونه په تعلیم یافته ځلمو پسی ولی کر ځی؟

ج : — دا ځکه چه دادعلم او ترقی عصر دی.

س : — دنا بالغو دپاره سینماته تلل ښه دی او کـه بـد ؟

ج : — دانننی فلمونه تر دې اندازې خراب شوی دی چه دهیچـا دپاره ددې فلمونو ننداره ښه او کـټوره نه ده .

س : — په دې نړۍ کـښې انسان په پوره اطمینان سره ژوند کولی شی ؟

ج : — کـومو خلـکو چه خپل ځانو نه دحرص او طمعې غـلامـان کـړی دی د هغوی قطعاً داطمینان ژوند په برخه کـېدلی نشی .

س : — دبشریت سره متضاد کوم یوشی دی؟

ج : — حیوانیت .

س : — زه غریب یم' څنګه به بدای شم؟

ج : — دبدای توب هیله ښه نه ده دانسانیت دپاره کوښښ کوه .

س : — هغه کوم شی دی. چه د انسان دمرګ نه وروسته هم په کار ېږی او ټول خلك ئې ستاینه کوی ؟

ج : — نیك عمل او ښه اخلاق.

س : — دصحیح ژوند صحیح اصول کوم دی؟

ج : — دانسانیت پالنه.

س : — په دې شلمه پېړۍ کښې ښځه ډېر اهمیت لری او که نا رینه ؟

ج : نړاو ښځه دژوندانه دګاډۍ دوه ارابی او څرخونه دی او دواړه یوشان اهمیت لری.

س : ښځو دپخوا به نسبت ډېره ترقی کړی ده او که یه ؟

ج : — ښځو دپخوا په نسبت ډېره ترقی کړې ده مګر دا ترقی په حقیقت کښې تنزل دی او دا ځکه چه ښځو دپردې اوحیا پړونی دمخونو څخه لرې غورځولی دی.

س : — دماده پرستۍ معنی او مطلب څه دی ؟

ج : — دپاك خدای د عبادت څخه دمخ ګرځولو او بې دخدای نه دنورمخلوق دپرستش کولو معنی ماده پرستی ده.

س : — دازدواجی ژوند دښه کولو دپاره د کومو کومو شیانو لحاظ ورد ی ؟

ج : — داچه هلك او نجلۍ دې دواړه په صورت روغ او عمرونه دی ئې متناسب او په کورنیو اعتباراتو کښې دې دیوبل سره برابر وی ' او نجلۍ دې دخاوند څخه په تعلیم کښې ډېره لوړه نه وی او ځلمی دې بې کاره او نجلۍ دې په کار مقرره نه وی او ددواړو مزاجونه دې سره یوشان او برابروی.

س : — انسانیت په کوم وخت کښې ژاړی؟

ج : په هغه وخت کښې چه انسان دانسانیت دلیاري څخه جلاا ووحشی شی.

س : — دانسان څخه انسانیت څه شی غواړی؟

ج : — داچه انسانیت سرلوړی کړی او په خپله مامون او خوشحاله ژوند وکړی او نورو ته هم دمامون او خوشحاله ژوند موقع ور کړی.

س : وایی چه مذهب دخدای د مخلوق دخدمت کولو دوهم نوم دی ؟

ج : — هو! لیکن په دې شرط چه خلك دمذهب په تعلیم عمل وکړی.

س : — انسان ته په کوم وخت کښې انسان ویلی شی ؟

ج : په هغه وخت کښې چه دهغه کار او عمل دانسانیت دتقاضا سره سم وی.

س :— انسان په کوم وخت کښې ځان وژني او انتحار کوي ؟

ج : — په هغه وخت کښې چه دمشکلاتو سره په مقابله کښې د ده حوصله خلاصه شي او يا په مينه کښې ئې حماقت په سر واخلي .

س : — علامه اقبال چه کومه خودي په خپلو اشعارو کښې ذکر کړې ده د هغې خودۍ څخه مطلب کوم شي دی او دغه خودي انسان ته په څه ډول لاس ته ورتللی شي ؟

ج : — داقبال په اشعارو کښې د ذکر شوې خودۍ مطلب د انسان عظمت او وقار دی او بايد انسان خپل عظمت او وقار که څه هم ډېر غريب او کمزوری وی وساتي او دلاسه ئې ورنه کړي .

س : — په انسان باندې په کوم وخت کښې ژوند بېمعنی کېږي ؟

ج : — په هغه وخت کښې چه دژوندانه دمشکلاتو په مقابل کښې مغلوب شي .

س : — دژوندون معنی څه ده؟ او دژوندون دوهم نوم غم دی او که خوشحالی ؟

ج : — دژوندون معنی ژوندی او سېدل دی- او ژوندون د غم او خوشحالی دواړو نوم دی چه ژوند له همدغو دواړو شيانو څخه جوړ شوی دی .

س : — که په نړۍ کښې تياره نه وای نو څه چل به شوی وای ؟

ج : — که په نړۍ کښې تياره نه وای نو د ګنا هونو نړۍ به ورانه شوې وای.

س : — انسان دانسانيت څخه په کوم وخت کښې جلا کېږی ؟

ج : — په هغه وخت کښې چه په شيطان پسې روان شي .

(دډيلی د بيسوين صدی له مجلی څخه)

ښاغلی (ثابت)

سلطان شهاب الدین غوری

(۵) برخه

په هند کښی دسلطان شهاب الدین غوری نائب الحکومه ګان او ځینی مشهور سپه سالاران :

چه ځینی لوړ لوړ اشخاص او دشهرت خاوندان دلته ذکر کوو :

۱ـ قطب الدین ایبك: دی دسلطان شهاب الدین غوری له مریانو څخه و ' اودی دپوره لیاقت خاوند ؤ ' چه دده دستری پوهی او بشپړه کمال په اثر ؤ چه سلطان ' دی آزاد او دلوړو منصبدارانو اوارا کینو په ډله کښې ئی مقرر کړاو دډیلی او نورو نزدی ولایاتو حاکم او نائب الحکومه ئی وټاکه چه بیا وروسته مستقل پاچا شوی دی .

۲ ـ تاج الدین یلدوز : دی هم دسلطان له مریانو څخه ؤ او دلیاقت او لوړو خدمتو په اثر ئې آزاد کړ او دامارت مرتبې ته ئې ورساوه او دده دلوړ وفدا کاریو په اثر ئې د کرمان او شیوران دولایاتو حکومت او نائب الحکومګی وده ته وسپارله .

۳ بهاءالدین طغرل : دی هم دسلطان شهاب الدین غوری له نومیالیو امرا ؤ او لوړو سپه سالارانو څخه ؤ او دسلطان له خوادی د(بیانی) او د(ګوالیار) دولایتو حاکم او نائب الحکومه مقرر ؤ ' او دګوالیار په ولایت کښې ئې یوه کلکه عسکری چونۍ جوړه کړې ده (اودسلطان کوټ) په نوم ئې مسما کړې ده دغه دسلطان کوټ ودانی هم ددې غازی پښتانه سلطان له آثارو څخه ده .

٤ ـ ناصر الدین قباچه : دی هم دسلطان شهاب الدین غوری له مریانو څخه ؤ او چه دی دخورا لوړ همت او شهامت خاوند او دکیاست او شجاعت څښتن او یو ډیر هوښیار شخص ؤ ' نو ئې آزاد کړ او دلښکرو سپه سالار ئی وټاکه او دسند دولایاتو نائب الحکومه ئی مقرر کړی ؤ

۵ ـ ملك علی کرماچ : دی هم دسلطان شهاب الدین غوری له ستر وامرا ؤ څخه و ' او دملتان او دلاهور دسیمو نائب الحکومه ئې مقرر کړی ؤ .

٦ ـ محمد بختیار خلجی : دغه شخص دغور دپښتنو دلوړو او خورانو میالو اشخاصو له جملی څخه ؤ او یو پیاوړی سپه سالار ؤ ' دی یو خورا هوښیار او سخی او دلوړ شرافت

او شجاعت خاوند ؤ او کوم پښتانه چه له غزنی ' غور او خراسان څخه هندته راغلی وو ' ټول ده ته راغلل ده دسلطان په امر او اراده دبهار ولایت او دبنګال ټول سیمی دبنګالی تر سترسیند پوری وینولی او دبنګالی په سرحد کښی ئې د(رنګ پور) په نوم یو نوی ښارو دان کړ او دځان دپاره ئې دنائب الحکومګۍ مقر اوځای و تا که او په هغه ښار اوهغو ولایاتو کښې ئی چه دده په تصرف کښې وو مساجداو خانقاګانی او مدرسی جوړی کړی او اسلامی شعائر ئې هلته جاری کړل او دشرك په محو کیدلو کښی ئی زیات کوښښ و کړ دده داسلامی خدمت او لوړی مجاهدی په برکت وچه دبهار او دبنګال په ولایاتو کښې اسلام تقویه شو او تراوسه پوری شریعت محمدی (ص) هلته په ترقی او تعالی کښې دی او اکثریت دمسلمانانو په برخه دی هر کله چه ئې دغه ولایتونه مطیع او په تصرف کښې راوستل نو د(تبت او کاشغر) دفتح کولو هڅه ئې و کړه نو محمد شیر خان خلجی ئې ' چه یو ډیر پیاوړی او زړور پښتون سپه سالار ؤ ددغو ولایاتو په محافظت او نائب الحکومګۍ مقرر کړ او دبنګال ' بهار او لکهنود ولایاتو دحکومت دپاره ئې پریښود. او دهغه ور ورځې چه هغه هم یو لوړ منصبدار ؤ دده په ملګرتیاله ده سره پریښود ' اوعلی مردان خلجی ئې چه یو عمده سردار ؤ د(دیو کرت) دحدود دتصرف کولو دپاره مقرر کړ په خپله دی له (۱۲) زرو انتخابی سپیروسره دهغو غرو خواته ولاړ چه د(لکهنوتی) او تبت په منځ کی دی دهغو حدود دیو مشر دمحمد بختیار ددعوت په اثر په اسلام مشرف او داسلام دین ئی قبول کړ اوعلی منج نوم ئی پری کیښود ' نوموړی علی منج له دوی سره ملګری شو او دتبت لاری ئی ودوی ته ورښودلی ' دتبت حدود ته چه ورسید هلته یو لوی سیندؤ چه د ګنګ له سیند څخه سور ور اوژور ؤ چه (نیمکری) نومید او پر دغه سیند باندی یو لوی پول تړل شوی ؤ دوی پردغه پول تیر شول او ددغه پول دسانتی دپاره ئی دوه خپل منصبداران مقرر کړل ' دمحمد بختیار عسکر چه تبت ته داخل شول دهغو حدود دویو مشر چه (رای کامرود) ئې باله اودمحمد بختیار له زبردستی څخه خبرؤ له محمد بختیار سره ئی دنرمۍ او رفاقت لارو ینوله او خپل متعمدان ئې ورولیږل او دتبت دلارو سختۍ او دسرحدی کلا ګانو زیاته محکمی او کلکوالی ئی ورته بیان کړاوعرض

ئی ورته وکړچه سبز کاله دتبت له ینولو څخه صرف نظر کړه بل کاله په زمالښکری هم داسلام دلښکرو له مخه وی تبت به ونیسو خو محمد بختیار دهغه او دنورو نصیحت او خبره ونه منله له خپلو لښکرو سره دتبت دینولو په عزم روان شو پنځه لس ورځی ئی لوی لوی جګ غرونه دپښو لاندی کړل شپاړ سمه ورځ له غرو څخه تیرشو اویو هوار اوخورا ودان او معمور وطن ته ورسید په دی سیمو کښې دپښتنو لښکرو اودهغه ځای دخلکو په منځ کی سخته جګړه ونښته اودهغه ځای خلك په یوه اتفاق له مسلمانانو سره په جګړه اخته شول او پښتانه ئی ډیر ستړی کړل اومحمد بختیار ته خبر راغی چه ددې هیواد مرکزچه (کرم سین) نومیږی پنځوس زره خورا پیاوړی او ویشتو نکی جګړن عسکر اری چه په (۱۲) زرو نفرو دهغو مغلوب کول ګران کار دی اودا ولایت خورا سخت غرونه لری چه نیول ئی ډیر ګران دی، نودی هم بیر ته پرشا رارهی شو.

او دتبت خلکو ددوی دلاری دځیری شیونه لکه پروړه، غله او نور ټول سو ځولی او تلف کړی وو، نوله دغه کبله هم دپښتنو پر لښکرو ډیر تکلیف راغی او په زیات زحمت ئی ځانونه د (رای کامرود) ولایت ته را ورسول پښتانه چه د(تیمکری) سیندته را ورسیدل له بده مرغه هغه دوه منصبداران چه محمد بختیار د پول دمحافظت دپاره مقرر کړی وو، په خپل منځ کښی سره بې اتفاقه شوی پول ئی پری ایښیؤ دوی تللی وو اود کامرود خلکو دهغه سیند دپله دوی موری ورانی کړی وی نو محمدبختیار دبیړیو او جالو دجوړولو تدبیر وکړ خو په دې وخت کی رای کامرودته اطلاع ورسیده چه دمحمد بختیار لښکری خورا ستو مانه او پریشانه اوزیانمنی شوی دی نوئی ټولو خپلو عسکرو او درست رعیت ته امر ورکړ چه په یوه وار پر اسلامی لښکرو باندی برغل وکوی هغوی هم په یوه وارد محمد بختیار پرلښکرو هجوم را ووړ اوخورا سختی جګړی وشوی په پای کښی پښتنو به اسونو سپاره په دغه سیند کی ځانونه اوغورزول محمد بختیار چه له سیند څخه راو خوت او خپلی لښکری ئی وکتلی ډیر ئی تلف او زیان شوی وو، او دځان ناکامی ئی په دې بختیاری کښی اظهار کړه او وئی ویل: (زمانا کامې ددی علامه ده لکه چه سلطان معزالدین سام ته کوم پېښه رسیدلې ده

(نور بیا)

مولوی محمد یونس - میړنی

ای د پښتو مینانو !

زما ددی پاسنی عنوان په لیدنه به هر پښتون داغواړی چه زما دامضمون ټول ولولی چه زه ورته څه وایم ځکه هر پښتون خپل ځان دپښتومین ګڼی خوزه دازغ هغه چا ته کوم چه هغه خوشی دخولی په وینا د پښتومین نه وی بلکه هغه په رښتیا سره د پښتو او پښتونولۍ سره دزړه له کومی مینه لری او دخپل موجودیت بنسټ پښتو او پښتونولی بولی. هوزما دامخاطبه دهغه چاسره نه ده چه په پښتو ژبه غږیږی او ځان پښتون بولی خو دپښتنی اخلاقو ، غیرت او همت ، صداقت او فدا کارۍ ځنی ځان ژغوری اودپښتو او پښتنو په مقابل کښی یو څوټوټی سرو اوسپینو زروته ترجیح ور کوی او په پیسوئی خرڅوی ځکه که دغه ډول خلك ځانونه دپښتومینان او پښتانه بولی خو په اصل کښی پښتو دښمنان دی او پښتانه ورته نشم ویلی بلکه زما دا مخاطبه د هغه پښتنو سره ده چه پښتو په حقیقی معنی سره پیژنی او پښتنی اخلاق چه لمړی بیان شول خپل انسانیت ګڼی زه وهغه چاته پښتون نه وایم چه دبګیل مړز غوندی چغ چغ لری اوځان د پښتنو په لړ کښی ننه باسی او دعملی میدان ځنی تښتی بلکه زه هغه چاته پښتون وایم چه دلاپو او شاپو په ځای عمل کوی زه وهغه چاته هم پښتون نه وایم چه دجنګ په میدان کښی ئی دشاله خوا زخمونه ولیدل شی او دتیښتی نښی پکښی ښکاره شی بلکه هغه څوك پښتون دی چه تر وروستنۍ سلسګۍ پوری دپښتو اوپښتنی اخلاقو دساتنی له پاره مخ په وړاندی زور کوی او خپل موجودیت له لاسه نه باسی . نوای رښتینی پښتنو ! ای د پښتنو مینانو ! تاسو خو به ټول خبریاست چه تروسه پوری پاکستانی وا کو الانو دا کوښښ کاوه چه یو ازی اوه ملیونه پښتانه له منځه ورك کړی او د پښتو نستان موجودیت ونه منی خوا وس ئی ودی ته پښی اړم کړی دی چه دپښتون نوم له نړۍ څخه لری کړی له همدی کبله ئی په محکوم پښتونستان کښی پښتانه د اور دوژ بی ته اړ او مجبور کړی دی زه دانه وایم چه اوردو ژبه دې نه وی بلکه زه داو ایم چه له یوی خوادې دپښتو بیخ ویستل عملی نه شی او له بلی خوا دې او ردو ژبه استبدادی ژبه

ښکاره نه شي نو زما په عقیده ددې کار او ناوړه تصویب دمخ نیوی له باره له یوی خوا ټول پښتانه (نه یوالحی دپښتونستان) باید له غیرت کار واخلي او عملی اقدام ته تیار او چمتوشي او له بلی خوا هغه خلك چه اوردو ئی ژبه ده او د حق طرفداری خپله وظیفه ګڼی ددغه تصویب عملا تر دید و کوی ترڅوئی ژبه استبدادی ښکاره نشي پښتو خو کله په چا باندی استبداد ندی کړی نوولی وربانندی استبداد کیږی زما پښتنو وروڼو! که یو پښتون دوه پښتانه په سلها وو پښتانه مړه شي نو پښتون نه ور کیږ ی اما که پښتو ور که شي نو پښتون ورسره سم ور کیږی موږ او تاسو ته ښائی چه له یوې خوا ددغه بدوضعیت دمحوه کولو دپاره کوښښ و کوو اوله بلی خوا دپښتو ټولنی سره ټول داسی یولاس شو چه زر تر زره خپله ژبه په توله د نیا کښی خپره کړو او دخپلی ژبی اهمیت په خلکو وپیژنو زه داویلی شم چه د پښتونستان د آزادی په لاره کښی کوښښ کول لمړی دپښتونستیانیو او بیا زمونږ وظیفه ده اما دپښتو ژبی دتینګولو اوله هغی څخی د دفاع کولو په لاره کښی قدم اخیستل او خپل ځان او مال ځارول زمونږ دټولو یوه برابره وظیفه ده نو د پاکستانی وا کوالانو دغه بده رویه یوالحی په پښتو نستان تعرض نـدی بلکه داد نړی په ټولو پښتنو باندی سخت تعرض دی که دیو نو دمجلس غړی ودې مسئلی ته په ښه ستر ګه ځیر شي نو دا به دپاکستانی وا کوالانو یوغټ ظلم و ګڼی ځکه په خلکو باندی مورنی ژبه پر ښودل د کوم بشری یااسمانی قانون تقاضا نده نو ځکه می داعرض و کړ و چه دې خبری ته ښائی د پښتو مینان په دقیق نظر سره و ګوری :

د پښتو لغات

په پارسی او اردو کښی

د کوم قوم ژبه او تهذیب چه د حکومت او سیاست په لمن کښی و نه روزل شی نو دهغه ' قوم تاریخ ' ویاړنی افتخارات تر دې چه ژبه ئې هم د نورو د اثر لاندی راځی او ټولې ښیګړی ئې د نورو په نامه تمامیږی .

د پښتنو هم دغه حال دی ' د مغلو په اوږده دوره کښی د پښتو تاریخ ژبه تهذیب هر څه د پردو په خم کښی رنګ شول . قلم د نورو په لاس کښې ؤ ' د تحریر او دفتر ژبه پارسی وه له دې کبله پښتو له منځه ووتله او د ژبو په قطار کښی چا نه شمیر له . د اکبر باچا په وخت په هند کښی (اردو) منځ ته راغله ' چه خلك ئې له هندی او پارسی څخه مرکبه بولی ' مګر حقیقت دا دی چه اردو له هندی ' عربی ' پښتو او فارسی څخه جوړه شوی ده او د دغو ټولو ژبو لغات پکښی شته . د ټولو قومو څخه زیات فتوحات په هند کښی پښتنو کړی دی . او په ټول هند کښی ئی لویې لویې باچا هیې جوړی کړی دی ' له دې کبله ډیر پښتو لغات په اردو کښی داخل شوی او ننوتلی دی ' دیو مفتوح په ژبه کښی د فاتح قوم د ژبی تاثیر لکه د لمر ښکاره او څرګند دی . سربیره پر دې د اردو او پښتو تر منځ په اصلی منبع کښی هم نزدیوالی شته او د ګاوندیتوب په وجه هم د دواړو ژبو لغات سره یو له بله شریك شوی دی .

ډیر خلك چه د پښتو کوم لغت په اردو کښی و ګوری نو سمدستی خیال کوی چه دا ګوندی له اردو نه پښتو ته راغلی دی . ډیر خاتیځ پوهان هم په دی سودا اخته شوی دی لګه چه ډار مستتر فرانسوی په خپل کتاب د پښتو څېړنه کښی د پښتو ډیر الفاظ د نزدیوالی له کبله اردو بللی دی . اردو یوه وروستنۍ ژبه ده او پښتو په اصل حساب کښی د سنګریت

اواوستا خور بلکه مورئی ده ،هغه وخت چه غوریانو ، لودیانو ، خلجیانو او سوریانو په هند حکومت کاوه نو دغه اردو لازیږ یدلی هم نه وه له دې کبله مونږ په یقین ویلای شو چه له پښتو څخه ډیر لغات اردو ته ننوتلی دی. که مونږ غواړو چه یو لغت یوې ژبی ته منسوب کړو نو باید په هغه ژبه کښی ئې نور اشتقاقونه او ریښی هم پیدا کړو. دا د ژب پوهنی یو علمی قانون دی چه یو لغت د ریښی او اشتقاقونو په لحاظ د یوی ژبې ګڼل کیږی .

وروسته غواړو چه په دغه اساس سره د پښتو هغه لغات و څیړو چه د هند او ایران د روابطو په مجله کښی (۱) اردو ګڼل شوی دی او لیکلی دی چه دغه لغات له اردو نه افغانستان ته تلل دی او په پارسی کښی داخل شوی دی .

دغه مجله لیکی چه (دول .(دهول) ترائی ، مولی ، ساګ ، کچالو ، ګر ، تول کردن . تال دادن ، تتو (تټو) تالی (تهال) تکر ، تکری (تهو کری) جګره ، جوره ، دیره ، دنده ، کوتی کوتهی (چت (چهت) موچې) له اردو څخه فارسی ته راننوتی دی . نو دادی مونږ غواړو چه د ریښی او اشتقاق له مخه داثابته کړو چه دغه لغات ټول پښتو دی او بیا وروسته له پښتو څخه هم په فارسی کښی او هم په اردو کښی داخل شوی دی . د دې خبری یو دلیل د ریښی او اشتقاقونو موندل دی یعنی دغه لغات په پښتو کښی لویه کورنۍ او خپلوان لری او بل دلیل له فارسی او اردو دواړو څخه د پښتو قدامت اولرغون توب دی . نو دادی ښه ورته متوجه شئی .

ډول : د پښتو د ساز او سرود یوه قدیمی آله ده ، د پښتو د جنګونو او جګړو صحنې د دوی د ملی اتڼونو ننداری د ډول له آواز نه پرته وجود نشی پیدا کولای ، د پښتو زرګونه کاله پخوا د ډول په آواز خپلی لښکری په جوش راوستلی او د ډول په آواز به ئې خپل جګړن خبرول : څومره چه لښکر کشی ، اتڼ د پښتو قدیمی ملی دود او دستور دی نو دغه شان ورسره ډول هم لازم اولرغونی شی ګڼل کیږی .

ډول کلمه په صوتی لحاظ هم پښتو ښکاری او د (ډم) دغږ سره یو رنګو الی لری لکه چه له (ډم) نه ډمامه ، ډومبکی او نور جوړیږی نو دغسی له (ډم) نه (ډن. ډل) او په آخر کی (ډول) هم جوړ یدای شی. ډول په پښتو کښی په بله معنی هم مستعمل دی ، دژر ندی د پاسه

---

(۱) دا مجله له کلکتی څخه خپریږی . د ۱۹۵۱ د اکتوبر ګڼه

ددانو اچولو تختی ته‌هم ډول‌وائی ، ولی‌چه دډول په‌شان درب‌درب کوی او دارټ په‌شیانو کښی‌دلرگی لوی تاوېدونکی څرخ ته‌هم ډول وایی په‌سانسکریت کښی (ډول) گردش په‌معنی دی دارټ ډول به شکل کښی دموسیقی دډول په شان وی .

(ډال) هم په لفظ اومعنی کښی ډول ته نزدې‌دی ، په‌پښتو کښی‌د (ډولکی) کلمه هم موجوده‌ده چه د ډول تصغیر دی نوددې‌دلیلونو په‌اساس‌ویلای‌شوچه (ډول) یوه پښتو کلمه‌ده او له‌پښتونه فارسی اوار دوته تللی‌ده .

ترائی : دا کلمه په‌پښتو کښی (توری) استعمالیږی له‌دې کبله چه‌دغه سږی له‌رنگه توره وی نو (توری) بلل‌شوی ده ، ددې‌ریښی او اشتقاق او تناسب له کبله ویلای شو چه‌دغه کلمه اصلاً پښتوده او بیا اردو اوفارسی ته ورغلی ده .

مولی : دا کلمه‌په فارسی کی (ملی) استعمالیږی ، مگر دآهنگ او عمومیت له‌مخه پښتو کلمه ده ، ځکه‌په‌فارسی کښی (مولی) ته (ترب) وایی . درست پښتانه له(مولی) نه‌پرته بل‌نوم نه‌پیژنی . (مولی) د (مولی) له کلمی سره‌هم څه‌قدر شباهت او نزدیوال لری نوښایی چه‌دا کلمه یامشترکه وی اویا اصلاً پښتووی .

ساگ: دا کلمه په‌فارسی کښی‌نشته ، دنوموړی مجلی خاوند په‌دې مثال کښی‌تېرو تی ښکاری مگرپه پښتو کښی‌مستعمله‌ده ، که‌څه هم له(ساگ) نه (سابه) زیات استعمالیږی خو که دریښی په‌لحاظ ورته‌و کتل‌شی‌خو په (ساگ اوسابه) کښی‌یوه ریښه یعنی (سا) موجوده ده‌په‌دې لحاظ په (ساگ) کښی‌دپښتو رنگ اوریښه غالبه ده .

کچالو : په‌دې کلمه کښی‌هم دپښتوریښه قوی‌ده ، کچالو دالو گانو یو قسم ته‌وایی چه‌پوخ شی نوښویه والی پیدا کړی اوڅه‌قدر (کچه ـ خام)معلومیږی په‌دې‌لحاظ کچالو په‌اصل کښی (کچه‌الو) دی . مگرپه کابل کښی (کچالو) دآلو په‌معنی استعمالیږی .

گوړه : دا کلمه له‌پښتونه فارسی ته راغلی‌ده‌او (گر) ویل کیږی که څه‌هم ښایی چه‌اصل ئی‌هندی (گړ) وی‌په‌پښتو کښی ددې کلمی مشتقات گوړی (چه گوړه جوړوی) اونور دی :

تلل : دامصدر په‌پښتو کښی یو اصلی مصدر دی‌اوغالباً له (تلی) څخه‌جوړ شوی‌دی کوم کارچه‌دتلې په‌واسطه کیږی‌هغه‌ته تلل وایی‌د(تول) کلمه‌هم به دغی‌ریښی پوری اړه‌لری.



یەقندهار کڼی داعلیحضرت معظم همایونی دهر کلی لەمراسمونه یوه منظره

اعلیحضرت معظم همایونی دحضرت خواجه عبدالله
انصاری (رح) به آرامگاه کنهي

اعلیحضرت معظم همایونی به کازرگاه
شریف کنهي

تر دې چه د موسیقی (تال) هم په معنی او لفظ کښی له تول سره ارتباط ښیی نو ددې بیان څخه وروسته ویلای شو چه دا ردو (تهولنا) او یا دفارسی تول کردن له پښتو څخه اخیستل شوی دی :

تال : دا کلمه دځنډ او معطل په معنی پښتو کلمه ده ، (تال) په اصل کښی د (گاز په معنی دی ولی چه په (تال) کښې هم دزانگلو په وخت سړی تالیږی یعنی ځنډ کوی . د (تال) بل شکل په پښتو کښې (تال) دی چه هغه هم په دغه معنی دی :

څو شاه خوبان بالښت له رانشی الله ـ سامی په کالبوت کښې ترهغی اتال لره (علیخان) ددې کلمی نور مشتقات په پښتو کښې دادی (تالول ، تالیدل تال کېدل ، تال کول تالونه ـ) په دې لحاظ ویلای شو چه دارد و تهالنا او دفارسی (تال دادن) له پښتو څخه اخیستل شوی دی .

تټو : دا کلمه په پښتو کښې د (یابو) دپاره استعمالیږی کوم اس چه باروری او کته پرې اچول کیږی (تټو) باله شی . دا کلمه غالب له صوت یعنی (تټ) څخه جوړه شوی ده (و) په پښتو کښې د فاعلیت لاحقه ده نو ځکه ویلای شو چه دا کلمه له پښتو نه اردو او فارسی ته ورغلی ده .

تالی : دخاورو هغه لوښی او کاسی ته وائی چه منځ ئې لږ اوار او د ښوروا خوړلو دپاره تیا روی ـ دا کلمه غالباً له (تلی) او (تل) څخه اخیستل شوی ده د کوم لوښی چه (تل ـ بیخ) لکه دتلی او اروی هغه تالی دی ، دپښی تلی ، ددرمند تلی دا ټول همدغه شان او اروی .

تکر : په پښتو کښې تصادم ته وائی . دتصادم په وخت کښې (اکثر د تك) آواز پیدا کیږی ، (تکره) ددې کلمې پښتو شکل دی ، (تکه) هم له دغی ریښی سره ارتباط لری . په دې لحاظ دفارسی (تکر) دپښتو مفرس شکل دی .

ټوکری : دمیز رویا لښتو نه جوړې شوی شکری ته وایی ټوك په پښتو پېړاو تاوشی ته وایی لکه توکه خامتا ـ نو په دې لحاظ دټوکری ریښه اورنگ پښتو دی او دفارسی (تکری) دپښتو څخه اخیستل شوی دی .

جگړه : پښتو کله ده نور مشتقات ئی جگړن ، جگړه مار ، جگړاو و او نور دی نو ځکه غالب احتمال دادی چه دا کلمه له پښتو نه فارسی او اردو ته ورغلی ده .

جوړه : په پښتو کښې دوه غبر گوشیانو ته وایی، یوه جوړه جامی ، یوه جوړه څپلی جوړه لاسونه ، جوړه مرغی داټول دغه مفهوم لری . په اشخاصو کښې (جوړی) هم په دغه معنی استعمالیږی دا کلمه دجوړ ، اوجوړولوله مادی سره هم ارتباط لری لهدی کبله ویلای شو چه دفارسی (جوره) لهدې ځای نه اخیستل شوی دی. دا کلمه په اوردو کښې (جوړا) راغلی ده .

دیره : ددې کلمی مشتقات په پښتو کښې دیره کول، دیره کېدل او نوردی اودغسی مشتقات په فارسی او اردو کښې نهلری نوځکه پښتو گڼل کیږی .

ډنډه : یوورکی دلاس لرگی ته وایی چه اکثرً د پولیسو سره وی، د تلی لرگی ته هم ډنډه اوډنډی وایی . ډانډی ، ډنډور په پښتو کښې د یو بوټی (نار) ته ویل کیږی نوهدې مثالونو څخه ثابتیږی چه دا کلمه پښتو ده او په مفرس شکل په فارسی کښې (دنده) استعمالیږی .

کوټی : دا کلمه هم دریښی په لحاظ پښتوده ، کوټه او کوټ ئې اصل کلمی دی ، کوټ کلاته او کوټهخونی ته او کوټی لږلوی ځای یعنی مانی ته او کوټوال د کوټ ساتونکی ته وایی لهدې څخه ثابتیږی چه دفارسی (کوتی) له پښتو څخه اخیستل شوی دی .

چت : دا کلمه هم پښتو معلومیږی اود(او چت) له کلمی سره ارتباط لری ځکه چه(چت)هم اوچت وی که څه هم په اردو کښې هم(چهت) . راغلی دی .

موچی : دا کلمه هم په پښتو کښې ریښه لری . ځینی پښتانه پنو ته موچنی وایی نوښایی چه موچنه بهله موچی نه جوړه شوی وه دپښتو گرامر په قانون د موچی مؤنث هم موچنه راځی لکه دوبی دوبنه ، لهدی کبله چه (موچی) پهفارسی کښې دغسی مشتقات نهلری نوځکه پښتو کلمه گڼله کیږی او په هندی کښی هم (موچنه) نهدی راغلی.

دا ؤ دپښتو دلغاتو یوڅو مثالونه چه لهناخبری څخه چااردو گڼلی دی اوچافارسی .

په دې شان نور هم په فارسی اواردو کښې د پښتو زخت ډېرلغات ننوتې دی اوڅه قدر شکل ئې ورله بدل کړی دی .

امید دی چه ددغسی ټولو لغاتو یولست به کوم بل وخت سره له تفصیله ترتیب اونشر کړی شی .

ښاغلی شفیق له مصر نه

ددې ځای په یوه ښکلی باغچه کې د هرڅه نه زیات وژیړ ګل دمازیګر په ساحرانه یا شاعرانه فضاکې په ما ډېر تاثیر وکړ ... او په دې صورت هغه رنګ چه ډېره موده ئی ما پرضد تبلیغ کاوه نن په ما غالب شو او دغه خوږ بیت ئی زما خولې ته راؤست چه وریسی یوڅه ما هم ددغه فشار لاندې ولیکل امید کوم چه د کابل د ګرانی مجلې لوستونکی به دیو مسافر نه داهدیه ومنی .

(م . ش)

ژیړ ګل

« ته چه هسې ښایسته ئې ژیړه ګله — ځکه تا په ځان شیدا کړله بلبله »

ستا د رنګ نښې په باغ پیر داری کړی — دلته نه راځی خودی له دی کبله

کومه غوټه دې د مینې ورایله کړه — سرګوشی دې چه بلبل سره کولو

دادې رنګ د کوم مین د مخ اخیستی — چه د ژوند یا نه دې هومره زیړه شوله

د لبری کړی د بېدلو په جامه کې — دادې څه پرده په مخ وغوړوله

اوریده می چه تاوې په ګونګه ژبه — سترګې ووینځه « لیلی » له تغافله

ګوره تېر وېستې ظاهر د سرو ګلونو — خساره دې سراسر وکړه کاکله

شاؤخوا درنه چاپېره سره ګلان دی — ته ئې ژیړ د مسایرو غوندې څله

نه پوهېږم چه د دې باغچې ګل ئې

که زما غوندې راغلی له کابله

قاهره - د اپریل ٤-١٩٥٣

دیو پردیسی له خوا

ښاغلی دوست محمد (دوست) شنواری

نقش دوینو په‌دې غرو دارغوان نه زده کړه

دمایوسی په کوچ کښې ناست خفه دځانه ځنی — ای بی‌نصیبه سر راهسك کړه دګریوانه ځنی
ای دښکاری په‌دام بندی مظلومه تاته وایم — راته په ځیر شه لږ کرار شه له‌فغانه ځنی
یوځو خبرې درته کړم دزړه په‌غوږه ئې واوره — طبق العمل سره ئې ساته له نسیانه ځنی
د عقیدی په پلك دوهم ځنځیرونه مات کړه — ځان دې آزاد کړه ددې یأس دزندانه ځنی

په شان دباز وکړه پرواز پورته په‌لور دآسمان
نظر پیدا کړه د شاهین وګوره حال دجهان

نوی‌ژوندون نوی‌روزګار ددې جهانه‌زده کړه — نوی تعلیم نوی‌سبق ددې دوران نه زده کړه
کله خزان کړه په غلیم کله بهار په وطن — دا تحول اوتحرك دې د آسمان نه زده کړه
که‌ته مین ئې په‌سرو ګلو د کهسار بلبله — نقش د وینو په‌دې غرو دارغوان نه زده کړه
یوځل سیراب کړه په‌سرو وینو دغه‌تږی ګلان — تازه کول ددې ګلونو د باران نه زده کړه

که بهار غواړی دلاله پشان په وینو شه رنګ
که وصال غواړی ځان ستی کړه په‌مثال دپتنګ

ژوندی کول‌دې دمړه‌زړه دمسیحانه زده کړه — خوږی نغمی خوږې سندرې دبورانه زده کړه
ای د آزاد ژوندون طالبه مدرسې له راشه — ددې ژوندون کتاب ددهر د ملانه زده کړه
ترڅو به دم غنیمت کړی لکه‌دسوری واوره — دزړه له تاوه شه اوبه‌موج ددریانه زده کړه
ترڅو به ناست ئې په ظلمت کښې دسبا په طمع — پاڅه سبا د سپینو تورو د بریښنانه زده کړه

ولی ویده ئې په‌رڼو سترګو دسوی ئې په شانی
دمېږتون جاله خواب ګاه کړه دهوسۍ په شانی

لیاځان دځان کړه لیالاسونه ددې‌ځان نه‌واخله — لیاجهان خپل کړه لیا خوکډه دجهان نه واخله
په‌هر خزان پسی عادت دی چه بهار رادرومی — راشه بلبل پسرلی دی دخزان نه واخله
چېرته یو ګل چېرته غنچه‌چېرته‌د ګلو ګلشن — د اتحاد عبرت دګل او ګلستان نه واخله
دابدی ژوندون قیمت دی دسرو وینو بدلون — دا د حیات اوبه ارزانه د احسان نه واخله

څو به پټ ګرزی د مرغانونه دبوم په شانی
دا دذلت دنیا ګډ وده کړه اتوم په شانی

لیالکه‌شمع ځان ته ډېرډېر پتنګان کړه پیدا — لیا د پتنګ په شانی مینه په‌نیران کړه پیدا
لیا دبلبل پشان طواف په‌سرو ګلونو کوه — لیا خود ګل په‌شان‌دې ځانته بلبلان کړه پیدا
دعافیت په ژوندانه کښې دې څه خوند و ه‌لید — په‌سره انګار کښې سمندر پشان ګذران کړه پیدا
ترڅو به‌فخر کړې دپلار اودنیکه په توره — ځان کښې دپلار اودنیکه په شان‌ایمان کړه پیدا

واخله پندونه د دوستانو د وینا ځنی ته
د فرعونۍ حقیقت زده کړه له موسی ځنی ته

ښاغلی «قتیل» خوږیانی

ما لره!

د شبنم قطرات ګوره جوړ دریا وی مالره
تاریکی شی همه واړه که سباوی مالره

سمندر چپو په منځ کښې یم ګیر شوی سر ګردانه
پړی پروت په لویه لار کښې اژدها وی مالره

کله غم کله خنداوی دا رواج دزمانی دی
خندا کمه غم وا فر تل مهیا وی مالره

جوړ له ستر ګومی روان دی سمندر پکښې غر غیږم
د اسمان نه چه څه راشی بیا و باوی مالره

ددنیا تیږی او لوټی دیتیم په سر وریږی
خاص یتیم رانه جوړ شوی دا سزاوی مالره

واك اختیار می د بل لاس کښې زه ژړیږم راته خاندی
دې عجیبی ډرامی کښې ژوند همدا وی مالره

سمه لاره راته ښکاری خو چه ورشم پکښې لویږم
په لباس د زمانی کښې غم مأوی وی مالره

نوی نوی هنګامی دی بعضی ژاړی بعضی خاندی
که تمامه دنیا خاندی خاص ژړا وی مالره

منتظر ناست یمه خلك که می خلاص کړی څوك له غمه
یو نظر د دلبرانو ښه د واوی مالره

مسلمان دهمدی ځای یم هیچا نه یم پیژندلی
له بل ځای نه یم را غلی غم اشنا وی مالره

نه می بله ګناه کړی چه مولا وم پری نیولی
که تمام عمر مریی وی نن اغاوی مالره

تنها دومره ګناه ګاریم چه نامه باندی پښتون یم
ګناه بله زما نشته دا ګنا وی مالره

ته می مل شی لو یه خدا یه زه پښتون نه لرم بل څوك
د مسکین «قتیل» په غږ کښې که شفا وی مالره

ښاغلی نورعلی شاه له خوست نه

ښاغلی نور علی شاه د جنوبی د خوست یو ښه شاعر او د دیوان خاوند دی دا دی یو شعر ئی ولولی:

اخلاص

په هر ځای چه کار او بار شی د اخلاص
دهغې حنظل انار شی د اخلاص

که په صبر قناعت دچا محکم شی
خواره خاوره به ګلزار شی داخلاص

مطربان چه یو تر بل زړونه یونه کا
مجلس کله به تیار شی د اخلاص

دا اخلاص دی چه بردی سره خپلوان شی
بی اخلاص به کله یار شی د اخلاص

غمازان که هزار چله په منځ وکړی
اصل یار کله اغیار شی د اخلاص

که هرڅو سحر جادو ساحران وائی
اصل ګل به کله خار شی د اخلاص

په هر زړه باندې تأثیر کوی فی الحاله
هغه قول چه ګفتار شی د اخلاص

هغه غشی تر اوو طبقو تیر یږی
په یودم کښې که ګذار شی د اخلاص

ټول جهان ترستر ګو لاندې لیدل کیږی
هر سړی چه آئینه دار شی د اخلاص

سیاحت به ټول جهان په یودم کاندی
هر سړی چه خدمت ګار شی د اخلاص

هر یو حرف ئې تر اوو افلاکو لوړ ځی
کوم سړی چه زبان دار شی د اخلاص

خزانی به دجهان په لاس کښې ورشی
هر سړی چه پهره دار شی د اخلاص

دا سید نور علیشاه چه پسې زیړ شو
ټول صنم ګوندې د لدار شی د اخلاص

دپسرلی مشاعره

وایی ژوند دحرکت نوم دی نودادی په طبیعت کښی ژوند او حرکت پیداشو، ونی او بوټی گلونه غوټۍ، ساکنې اوژول هر څه په حرکت راغلل دځلمو شاعرانو په زړه کښی هم دآرزو اوامیدونو غوټۍ وغوړېدې، دپسرلی ښکلې وږمې ددوی دماغونو ته تازگی ورکړه په زړونو کښی ئې جوش پیدا شو جذبات ئې په مستۍ راغلل نودادی خپل تاثرات په خپلو رنگینو الفاظو کښی تاسو ته وړاندی کوی. (رښتین)

ښاغلی ننگرهاری.

ای پسرلیه!

ای د فیض په عطرو لونده! ای درنگ او بوی جهانه!
ای د عیش او نوش سامانه! تازگۍ نه ډک زمانه!
د فطرت له شهکار وانه سر تر پایه بار کاروانه
طبیعت د غېږ حسینه د مستیو مېستانه!
دوږ مور نگین سحره دعالم نوی سینگاره
دفضا نوی گلکاره. دفطرت دباغ فنکاره

هنگامی دې تو دې کړی تکون دې بیا رنگین کړو
بیادی ورځې شپې کړې نوې طبیعت دې بیا حسین کړو
د فطرت اړخ دې بدل کړو تجدد دې په جبین کړو
خواهشات رکاب ته خیژی د خمار نیلی دی زین کړو
آرزو گانی بیاسرشاری سحر کاره ستاعشوې کړې
کائنات دې په خندا کړل تاچه جوړې دا نخرې کړې

یو پر کیف پوکی دې ورکړو د فضا څیرې گریوان کې
خلقونه دې غوټه کړل درنگونو خمستان کې
د نشاط پیغام دی راوړ د ماتم په شبستان کې
پرکالې دې کړله گډه سر درد یو دارمان کې
د شباب د تحفو ویش دی د غوټیو فهقهې
د سبزې دلور واور دی دشرابو سرې پیالې
دکیفونو معجونونه ستا حکمت دی تیار کړی
زنځیرۍ د خمارونو تاوږمو ته دی هار کړی

صنایع دتر د ستی دي په نشو دي ابدار کړی
موجودات دی له یو مخه په رنګونو سینګار کړی
لطافت ئې داسی کیف ئی چه کیف هم درته حیران دی
طراوت مړاوی جهان ته تا راوړی ارمغان دی

د ساده ژوند پروره فطرت تا نه په لړزان دی
ای درنګ او بوی رهبره خلقت تا نه سرګردان دی
مخترع د تنوعه ! بدعت تا نه نمایان دی
جدید خیاله مبتکره سنت تا نه په سوران دی
تازګی ده ستا دبوتی دنرمیو پناګاه ئی
د بلبل دامید ګله د زینت لو په بارګاه ئی

ستا بې کوره خوشبو ئی دی چه جټکې خوری په هوا کی
د ګلو د مستو پیغلو انجمن دی په بیدیا کی
ستا خاموشې اشاری دی د وږمو ګونګه ادا کی
آ بشارونه په خندا دی ستا درنګ او بوی دنیا کی
کړه نسیم عطاری جوړه ستاد حسن په بازار
بیا به ښکل سره اننګی کړی ، دپیمخو دوکاندار

لرې برې حیرانی دی ستا سینګار یو تماشا ده
ګریوان څیرې ناغې سترګې دا ژړا ده که خندا ده
شرابونه دې وریږی دا عقبا ده که دنیا ده
یو بې ښوره حرکت دی یو بې کوره شان غوغا ده
خدای زده حشر دی که نشریا طغیان دی د طوفان
که مغول سره اړم دی په خیبر کی ایمل خان

رنګ او خوند دې دواړه شته دی که نه ! بس یو آب وتاب ئې
حقیقت هم در سره دې ! که تش زګ نه جوړ حباب ئی
دا دی وینې که غازه ده چه تر سره پرې غرقاب ئی
د هوا هوس خوابګاه ئې که د سوز او ساز شباب ئی
که دعیش او نوش پیغام ئی نو څه مونږ نه یووز ګار
که مژده د نوی ژوند ئې نو رشتیا چه ئې بهار

ناز و لبه میلمه کوم شی تا له ځان عبرګ راوړی
کا ئناتو له خوږ ژوند تا دازل له تخرګ راوړی
دې مظلومو پښتنو له تا کوم ساز او برګ راوړی
که تعبیر کې دژوندون دی پښتنو له مرګ راوړی
دا دسرو ګلو غنچې دې کړه ډالۍ د هغه چا
چه ئې نه په زړه پر هروی نه په سترګو کې ژړا

د پښتون جذبه تحریك کړه — دخپلواکۍ خوږ ژوندون
مړه ارزوئی راژوندۍ کړه — د مستیو په گډون
دخودۍ رگ ئی حساس کړه — چه شی خلاص له شوا خون
پریشانۍ کې ورڅرگند کړه — د پریشانه بوی لټون
د بلبلو په نغمو کښې د بورا په زمزمو کې
یو رنگین لمسون القا کړه په خواهش د پښتنو کې

❀ ❀ ❀

د کردیز نه — ښاغلی دردمند

حسن تازگی ده وریدلی د گلزار په سر

تالنډې بریښناو کړه رقصونه د کهسار په سر — ماتې شوې په غرونو کښې کنگلې د آبشار په سر
راغله قافله د بوی او رنگ د ښکلو خوالره — سور کفن لالا دی را ختلی د مزار په سر
خیری شوله ځمکه تخم وچاؤ د سره گلونه شول — حسن تازگی ده وریدلی د گلزار په سر
ښکول کړله نسیم د گلاب غیږ کښې رنگینه غوټۍ — شین شال غوړیدلی د نښتر او د چنار په سر
ماتی زولنې شوې هر کلی د نوی ژوند کېږی — غږ د آزادۍ انعکاس کړی د بهار په سر
خېژی خوشبو ئی د بخملی بیدیاله فرشه نه — ځمکه زرغونه شوه خیرات ویشی د بازار په سر
ملاځلمو تړلی ځی میدان ته په لیلی پسی — وکړی گذارونه پښتنو د استعمار په سر
بند په جېلخانو کښې دی پراته مجاهدین ستاسی — سرې وینی دی ډنډلا په تېرا کښې د پرهار په سر
کله د قامونو پسرلی بی استقلاله شته — دامسئله پریښی ده مین منصور د دار په سر
پیغلی مروری د بهار د نندا رونه شوې — وکړی پتنگانو نندا ری د سره انگار په سر
خیری په لمن د توری وریځ لکه بریښنا نکړی — کله غلامانو ته چا پریښی دی سنگار په سر
خوښ به زه دردمند شم د بهار په تماشو هله — تاج چه کړی عزیز پښتونستان د افتخار په سر

❀ ❀ ❀

لیکونکی ښاغلی سیال

پسرلی

راغی پسرلی وخت د میلو او د خندلو شو — غم د دنیا گۍ یو ازې زما د کړولو شو
راغی پسرلی څوك په ژړا څوك به میلی کوی — بخت د هغه چا چه په زړه روغ وی
څوك به وی پخولا څوك به اشنا ځینی گیلی کوی — بخت د هغه چا چه په زړه روغ وی
څوك به وی جدا څوك په خبری خولی په خولی کوی — بخت د هغه چا چه په زړه روغ وی
غم د غمجن برخه پسرلی د نازولو شو — غم د دنیا گۍ یو ازې زما د کړلو شو

❀ ❀ ❀

مست خودې خندا کوی هغو سره جوړیږی — غمونه دی را پرېږدی زما برخه ده
ښکلی دی ښکله کوی هغو سره ښائیږی — غمونه دی را پرېږدی زما برخه ده
مین دی مشغولا کوی چه زړه ئې په رغېږی — غمونه دی را پرېږدی زما برخه ده
گل د صد د بلبل وی د مین د بو په ولو شو — غم د دنیا گۍ یو ازې زما د کړولو شو

ښکلي دي نهقا نازو ادا او مشغولا کوی — زبه ئی دار مان په ستر ګو ګورم
ګل سره دی مینه بلبلان اویا بورا کوی — زبه ئی دار مان په ستر ګو ګورم
بخت دهغه چاچه دید نو نه داشنا کوی — زبه ئی دارمان په ستر ګو ګورم
مینه دی مین کړی وخت ئی بیاد ل ویشتلو شو — غم ددنیا ګی یوازي زما دکړه ولو شو
څوك خو به د ګل په لید وښکلی دلبران یاد وی — زه به هغه ښکلی شهیدان یا دوم
څوك خو به ځو بانو ته میلی باغو بوستان یاد وی — زه به هغه ښکلی شهیدان یا دوم
څوك به په چمن کښی بیا پیالی خمارستان یاد وی — زه به هغه ښکلی شهیدان یا دوم
دبڼ کو کی چه ګوری خلکه! زما زړه هم د کتلو شو — غم ددنیا ګی یوازي زما دکړه واوشو

❀ ❀ ❀

څوك به ګلونه امیل وړی دآشنا غاړی ته — خو زه به ئی دشهید په قبر کېږدم
مین به کو کی فرش کړی داشنا ناستی ولاړی ته — خو زه به ئی دشهید په قبر کېږدم
عاشق پری سو ددیار کړی ځی د ګل لید وله شاړی ته — خو زه به ئی دشهید په قبر کېږدم
شهید دوینو رنګ لری ګل ځکه دستایلو شو — غم ددنیا ګی یوازی زما دکړو لو شو

❀ ❀ ❀

«سیال» دزړه دردونه ارمانونه به څوك واوری؟ — څوك به شی پیدا په ده زهیر چه شی؟
پیټی اندیښنی دسوزا هونه به ئی څوك واوری؟ — څوك به شی پیدا په ده زهیر چه شی؟
غمجنو افسانی اوداستانونه به څوك واوری؟ — څوك به شی پیدا په ده زهیر چه شی؟
هر ګل ته چه ګورم دبل غم دپاره ولو شو — غم ددنیا ګی یوازی زما دکړ و لو شو

❀ ❀ ❀

ښاغلی ع، «پرهیز»

د مین پسر لی

چه اوڅي پوڅي مایوسی کي ارمانونه کوی — له ډېره درده او غړن وی پر یاد ونه کوی
دمحبوبا ددیدن تږی وی آهونه کوی — نه ئی غم خوروی څوك نه ده سره رازونه کوی

چه ناڅاپی ورته ریبار زیری دیار ور کړی
خزان وهلی باغ ته بیا رنګ دبهارور کړی

دشاعر پسر لی

دخیال وزرونه کاندی خلاص زمکه آسمان لټوی — الوزی ځی چیر ته یو بل شا نته جهان لټوی
په نورو وریځو کښي شی ورك رعدوطوفان لټوی — په ستر ګکونو دبرښنا کښي خپل مکان لټوی

په سر درد اوشنو بڼو نو پروا زونه کوی
بیا داشعارو په تابلو کښي بهارو نه کوی

دمالدار پسرلی

چه ښه مالونه په ارزانه بیه واخلی چېرته — بیا په څوچنده په یو بل ئی هم سودا کړی بېرته
دسرواوسپینو پرډېری ناست دی په طمع ډېرته — نه ئی دوږی څه پرداوی نه څه پام کړی سېرته
دی دپیسو په ډېرېدو کښې خپل بهار لټوی
هم به ماده اوتجمل کښی دژوندلار لټوی

دبزګر پسرلی

چه کال آبادوی وخت په وخت ښه بارانو نه کېږی — په هر پټی کښې دبزګر لوی در موندونه کېږی
چه ګنی ښه وکاندی زور یکښې خوندونه کېږی — بیا په ګوګل کښې ددهقان دزړه ټوپونه کېږی
چه غله ډېره وی پرته هم په انبار دبزګر
چه ښی څاروی ئی په وندروی دابهار بزګر

دمشرانو پسرلی

چه ټول ملت په سمه لاراوپه قانون وی روان — لوی اوواړه په یوهدف دخپل سمون وی روان
د مملکت د اعتلا په پیوستون وی روان — حاکم محکوم، خان وغریب په یومضمون وی روان
چه کړی قایم عدل وآرام دغه دی کار دمشر
چه ورك دخلکو شی آلام دادی بهار دمشر

❀ ❀ ❀

ښاعلی نیك محمد پکتیانی

دنسیم پیغام

ووې نسیم چه؛ سینګار ونه راځی — خوږی وږمی ښایسته ګلونه راځی
دغرو لمنی؛ جنت غوندی شی — صافی هوانه به موجونه راځی.
دحنا رنګ به خجالت باسی — زرکی دغره به سره لاسونه راځی
داژوند مینا به قهقهی وکوی — نوی پیاله، نوی کیفونه راځی
دمستانه ځوانی سندرونه بیا — له غرګړنګ انعکاسونه راځی
په وړه خوله وغوټی ته کسه — دمسېدو څه لذتونه راځی!!
زمردی دښت او صحرا او ځنی — بیا به دمښکو کاروانونه راځی
سپوږمی به لری کړی پلوله مخې — هسك به له ستورو سترګکونه راځی
دحرکت زلمی به ملا وتړی — د آرزو پیغلی په نازونه راځی
دانجما دغوټه به ماته کاندی — شیبه، شیبه به بارانونه راځی
دبرودت فشار زوال حتمی — نوی به رنګ او الهامونه راځی
دپښتونخوا ناوی سنګار نه لری! — ځکه ګیله مې له پښتونه راځی
چه مړه براته دبې حسی په بستر — دا نتیجه ئی له ژوندونه راځی
چه پوه اویونشی یقین مې دادی! — چه په ړنګ کورئی سیلابونه راځی
د«پکتیاتی» په خوله پیغام رسوم — دې پسرلی پسې تحولونه راځی!!

ښاغلی جرار

عجیبه فلمو نه راغلل ددنیا د کارخانی نه

نن سبا به لاله راوړی سره شراب له میخانی نه
تشنه لب به ګوټ کړی برخه له دې ډکی پیمانی نه

په خندا به ګل غوټۍ شی دبلبل سوو ناروته
څه سبق به مین اخلی دبلبل دترانی نه

پرون مړه ؤ نن ژوندی شو بی قیامته حشر جوړ شو
عجیبه فلمونه راغلل ددنیا له کارخانی نه

حجاب لری کړ دمخ نه د ګل ناوی په خندا شوه
پرې نثار شوی ملغلری دآسمان دخزانی نه

نسیم واخیسته په غاړه لـلـو دنازولیـو
وریځی هیڅ سیماونکړه دسینی له اعانی نه

دړی وړی زولنی شوې ځنګدن دقید او بست دی
مستقل ژوندون ته راغلل ددې تورې جیلخانی نه

دا اختر دپسرلی دی چه نغمی او سرود اورم
که دا شوراوزوګ جګېږی دپښتون له جیلخانی نه

پسرلی دطبیعت دی که بهار د پښتنو دی
هله زرشه ماخبر کړه له دورنګه افسانی نه

چه راتللی نوبهاره دا آواز پښتون ته وکړه
ورته وایه څه چه درومو نور له دغې ویرانی نه

چه بهار او پښتون دواړه په آزاد ژوندون کښې ګورم
خدایه و ساتی دا دواړه دخزان له تازیانی نه

ښاغلی سید محمد طاهر «بینا»

د پسرلی اسرار

دپسرلی اسرار په ویښو زړو اثر اچوی
نن چه څوک سترګی لری هره خوا نظر اچوی

❀ ❀ ❀

دپسرلی قافله راغله رنګ و بو په سره
دعطر و ګل ، جمال ، کمال او هاى وهو په سره

د ډول ډول تازګیو او زینته سره
د لطافت او د زرګونو نزاکته سره

دا قافله د رنګ و بوی په څه اعزاز راغله
عزیز وطن ته په فاخره امتیاز راغله

مقصد ئې دادی چه دلبره ناوی بیا جوړه کړی
دنوی کال په مخ رنګینه دنیا بیا جوړه کړی

په قدرتی تدبیر جوړ شوی پری زیور اچوی
دپسرلی اسرار په ویښو زړو اثر اچوی

هغه دانا دی چه کامل دی او قادر دی پوره
بلا مثال دی په باطن او په ظاهر دی پوره

تړلی نقش د قدرت په اراده و وینه
د زړه په سترګو ئې په پاکه عقیده ووینه

یکښې دشمار ګلونه نه دی یو جهان دی دلته
ځانته یو کیف دی چه عاجزه ترې انسان دی دلته

غوټۍ دناز په تبسم شونډې پرانیتی ښکاری
دبورا ګانو ډلې شاو خوا الوتی ښکاری

عقل له سره اوزی دې خوا چه ګذر اچوی
دپسرلی اسرار په ویښو زړو اثر اچوی

ما چه داناوی ددنیا په جوړېدو ولیده
مینې ئې محو کړم دنیا مې د خوندو ولیده

دقدرت ډیر لطف و کرم زه منت باره کړمه
د شکرانې سجدې هردم ددې دپاره کړمه

آرزو په زړه کښې ددې نن حال دلیدلو ساتم
تر بله کاله به ئې بیا لار دراتللو ساتم

په وطن بیا پسرلی راغی دمستۍ دوران دی
(بینا) رښتیا ده ستا خبره دراستۍ میدان دی

بیا به دسوز ټکۍ بلبلی دسحر اچوی
دپسرلی اسرار په ویښو زړو اثر اچوی

پسرلی شو !

دخوښۍ غږ شو جګ په وطن کښې
بلبل وائی ثنا په ګلشن کښې
حرکت نن په ضد د سکون دی ای هو ښیاره داراز د ژوندون دی
ځکه روح کوی شور په بدن کښې
دخوښۍ غږشو جګ په وطن کښې
بوټو جګ کړل له خاورو سرونه شو ښایسته پرې پټی او د ښتو نه
ګل ښکاریږی رنګین په چمن کښې
دخوښۍ غږ شو جګ په وطن کښې
د نسیم په نرمۍ ګل غوړیږی لطافت په هوا ایدل کیږی
مینان کړی اصراف په دیدن کښې
دخوښۍ غږ شو جګ په وطن کښې
تحول ، ترقی ، اعتدال دی چه رنګین ټول عالم په جمال دی
ډیر تاثیر کوی دا په مین کښې
دخوښۍ غږ شو جګ په وطن کښې
بختانیه ! خبر کړه مالیار چه کوښښ کړی په وخت د بهار
ته هم مکړه سستی نوشتن کښې
دخوښۍ غږ شو جګ په وطن کښې

❀ ❀ ❀

ښاغلی محمدصدیق پسرلی

پسرلی ناره !

ساروانه پاڅه چرګو ناري کړې دژوند روح ورکړه ویده کاروان ته
په زیر و بم کښې د جرسونو نغمې کړه وړاندې غوږ د آسمان ته

❀ ❀ ❀

ساروانه ! پاڅه چه کاروان لیږدی خبر د تللو سحر اعلان کړه
ته هم را پاڅه په جرسونو د خوبه ویښ دی ویده کاروان کړه

❀ ❀ ❀

ساروانه پاڅه غوږونه خلاص کړه د افق خوا ته ستوری ستانه دی
وائی چه نوی نغمه پیدا کړه چه منزل لرې پټی د رانه دی

❀ ❀ ❀

ساروانه پاڅه د زړه په وینو شفق رنګ ورکړ زاړه آسمان ته
ته هم را پاڅه زړه دې ژوندی کړه نوی رنګ ورکړه زاړه کاروان ته

❀ ❀ ❀

ساروانه یا څه و اې غافل شوې ؟ — په افقونو خورې رنګې
د کاروان ګرد دی څه در نه وائی — د لېږ ددرسونه زد ، کړه له یاده

❀ ❀ ❀

ساروانه ژر ژر ګامونه واخله — چه جرس وائی د سوز سندره
سحر را درومی د افق غېږ نه — « که الله هو کړې اې فلندره »

پیغله مستوره

دبر کنړ داسمار له شال نه

نندارہ هله لازم دبهار وینم

بیا ښایسته په ښو ګلاو ګلزار وینم — یا ری هر لور دبلبلا نو چغار وینم
دپلټون په لوګی تور لمبو وهلی — تور پورا دګلو خوا کی سر شار وینم
په خپل حسن هره ونه بیا ناز ښکاری — ډېره سپر ار زه پکښی سر و چنار وینم
بلوه ګر مخ دګلاب بیارا خر ګند شو — دسنبل زلفی شانه په تار تار وینم
بنفشه په شنو بخملو کښی خند ښکاری — شاو خوائی دغا تو او فطار وینم
سور کمیس خپرې کړپوان لاله ښکاره شوه — په نرګس کښی د حیرت انتظار وینم
معطره هره خوا شپو نوری شوه — دسوسن له پټې خولی نه ګفتار وینم
دسحر نسیم دګلو همرازی کا — له کښی پرې د شبنم اشکبار وینم
نوې کال نوې ښادی نوی ژوندون دی — لحکه سر بیا په سندرو آ بشار وینم
دغه تول ستا برکت دی یسر ایه ! — چه هر ګل په میو مست او خمار وینم
خو مره ډېرې خزانی لری بهاره — په سخا دی هر یو ګل شهریار وینم
تارا وړی دتازه ژوند بشارت دی — ای بهاره ! تا طبیب د بیمار وینم
نور دې واړه نوی روح سره آشنا کړه — خویو زه زړګی دغمه داغدار وینم
ماته هم دوی ژوند آب حیات را — په زړه دنیا کښی ګرد او غبار وینم
چه نیا لګی دتول پښتون ګل اوثمر شی — نندا ره هله لازم د بهار وینم
تل پیر زو په پښتنو . خدایه بهار کړی — «مستوره» ستړی په دې انتظار وینم

بناغلی سیدمحمد مؤمن (ستومان)

که په سرو منګلو ور کړی پښتنو ته دوقار ګل

دجمال مسته جلوه شوه چه غوړیږی په دیار ګل — کائنات به یه یودم کړی له درانه خوبه بیدار ګل
عاشقان به بی اختیاره مستانه سر به صحراشی — هر نوا به ئې له جوشه رنګار رنګ کړی په کوهسار ګل
داهغه مسته ایلاده دبهار په ناز روانه — کړی پیمنه د خوبا نو هر مجنون باندی نثار ګل
خر امان راځی له ناز ه دعشرت جام ئې په لاس کښی — چه له خیاله ئې تو میلی به وربل باندی قطار ګل
دژوندون نسخه به لاس کښی دا پیغام بهار راوړی — ساقی وبو لی ګلشن ته چه تر سره شی خمار ګل
اوریه اوری خوا یه خوا کښی جوړ د ګلو ننداری دی — غرونه ګل راغونه ګل دی دباغونو تول اشجار ګل

که بیـــدیاوته نظر شی هغه ټول رشك ارم دی
باغ او بڼ دښت او چمن کښې تازه کیږی وار په وار گل

رنځوران دعشق واړه دبهار مخې ته د رومی
چه هدیه ئې ده راوړی په امداد دهر بیمار گل

که بلبل که عندلـــیب دی واړه داترانه وائی
گل زما په لوری خاندی مانیولی په منقار گل

چه دیار جمال دې نه وی مه ئې وینه په گلشن کښې
ځکه یأس له ډیره جوشه گرزوی په ستر گو خار گل

که جلوه ئې شی له نازه بی حجابه په گلشن کښې
پاڼه پاڼه به رژیږی په خجلت او انکسار گل

ناز پروره چه ئی ستایم آزادی لیلا ئی بویه
که په سرو منگلو ور کړی (پشتنو) ته دوقار گل

شا ځلمیان سره ټول شوی د گلونو ننـــداروته
دا لیلا ورسره نشته څوك به ئی خه کړی دبهار گل

که وصال دجانان غواړی دپتنگ عشق په کار دی
په لیلا باندی جاریږی تر نظر ئی سور انگار گل

یا بورا په شان پرواز کړی چه طواف وکړی د گلو
محبوبا وصال به مومی یا به واخلی دپرهار گل

دوطن په مینه مسته ځان کړه خلاص له دې بیغوره
لاس په بند پریکړی ښه دی نه په لاص کښې داغیار گل

❀ ❀ ❀

ښاغلی محمد یونس میړنی

هله به پښتونه تازه گل لکه گلاب شې

وخـــت د پسرلی دی ونی بوټی ارتقا کوی
سمه او په غره کښې سره گلان نشوونما کوی

راغلـــه بلبلان او سرودونه هـــره خوا کوی
گرځی په چمن کښې بورا گان سیل دښکلا کوی

ته پښتونه پـــروت ئې لکه مـــړی پاڅیدی نشې
خپل پردی دې هیر کړه ځـــکه چا ته رسیدی نشې

وخت دپسرلی دی هرې خواته شنه فصلونه دی
شنی ونی ښکاریږی ورسره هم سره گلونه دی

شین بخملی رخت باندی مستور غرونه رغونه دی
هـــری خواتـــه اورې د بلبلو آوازونه دی

تاته وائی تاتـــه چه بیدار شه څوبه خوب کوې
تیرشو عمر تیرشو نو ترڅوبه هلـــکتوب کوې

سره گلان دحال په ژبـــه تاوته وعظونه کړی
سری دشهید وینی دی چه دوی حکایتونه کړی

وائی پسرلی دی ارتقا سره بیرغـــونه کړی
خدای به ئی اوچت لکه دامونږ په غرور غونه کړی

ته که دا زمونږ غوندې په سرو وینو غرقاب نشې
چېرې په پښتونه تازه گل لـــکه گـــلاب نشې

غواړې آزادی اوغلی ناست په بن سبا کې ئې
نه وځی له کوره بس دخپل ځان په سودا کې ئې

دامیړانه نه ده چه لوی شوی پښتو بخوا کښې ئې
خپله تـــوره نه آخلی ته په هیله دبل چا کښې ئې؟

ځان په وینو سور کړه عبرت واخله له سرو گلونه
بچ کړه خپل وطن د دښمنانو له منگلونه

❀ ❀ ❀

میرمن حمیده

پوره نشوه دپښتون درانده خوبونه

بهار بیاراوړل ځولی ځولی گلونه
دشت دامان وهی په گلو بیا موجونه

د شهید جامـــه په تـــن د ارغوان ده
تازه کاندی هرریدی دزړه داغونه

داریدی دی چه ګل شوی په دامان دی — که راغلی دی د وینی سره رودونه
ځمکه رنګه شوه ځکه ښکلی تابلوده — که ښودلی طبیعت دی خپل رنګونه
بورا هر خواته د زیری پیغام یووړ — وائی راشی، چه له ګل کړو طوافونه
جوړې لړدی د پیرونو چه شلیدلی — داچه بریښی هری خوا ته شبنمونه
ځمکه شه شوه غوټی خاندی بلبل ناڅی — پوره نه شوه د پښتون درانده خوبونه
بهار بیانوی ژوندون ځمکی ته ورکه — تادی هم خدای راژوندی کاندی پښتونه
د بهار دوریځو سترګی شوی نمجنی — ستا په حال باندی ژړا کوی پښتونه

خدایه جوړ پښتونستان په پښتونخوا کی
چه ترسر شی د پښتون ټول امیدونه

ښاغلی «چمبیلی»

پسرلی او آزادی ؟

ننداره د پسرلی ده، زړه دهر چا په هوس دی — د بلبل مینه قلبی ده، ځکه بڼ کې په جرس دی
علامی د پسرلی دی — نن په دشت و په صحرا کې
خوشبوئی راځی له ورایه — د غوټیو په خنداکی
زر کی ناڅی خوشالی نه — هم بلبلی په هوا کې
کاروان ځان رسوی ځای ته — روا نیږی په سبا کې
بل دعصر ملا لیکی ... — خپل شاګرد ته په املا کې
نوی کال نوې دنیا ده، نوی ژوند نیسه تر سره — پریده پریده زوړ سبق دی، نوی زده کړه د زړه سره
نن بشر ګرده دنیا کی — له یو ځل نه ازادیږی
شپه دظلم نن په تلو ده — په مظلومو صبا کیږی
په میدان د عدالت کې — ظالمان اوس رسوا کیږی
استعمار کړی شوی ماتی — شنه طوطیان دی راخلاصیږی
د آزاد پښتون خوبونه — یو په یو ټول رښتیا کیږی
خدایږو نشته نور څه شته دغه کار ټول داهمت دی — بل دعصر خواهشات دی، چه ظالمو ته ذلت دی
په دی عصر د اتوم کې — چه موسم هم د بهار دی
ګرد چا پیر شنی منظری دی — د بلبلو هم چغار دی
آزادی، نوبت غږیږی — دهر چا لاس کې اختیار دی
یو پښتون دی په ایشیا کې — استعمار کی لاحصار دی
آزاد ژوندئې نصیب نه شو — داهغسی خوا رو زار دی
په تکلیف کې مبتلا دی، ګرفتار په مصیبت دی — اوس ژوندون ددوی له سترګو په معنی دمشقت دی
که پښتون لږ همت وکړی — آزادی به کړی حاصله
ددوی حق شته په دنیا کې — هم دنیا ده پری قایله
کله چا ګټلی حق دی — چه په خپله وی غافله ؟
که همت پښتانه وکړی — شی یو نوبه هم مایله
چه په سوال آزادی غواړی — ګویا سوال کړی له سایله
د آزاد ژوندون لیوال دی «چمبیلی» په دی بهار کې — پښتنو قدم اوچت کړی دعمل په لویه لار کې

ښاعلی سید وفا خوږ یانی

ښه نسیم لګېږی ښه نڅاورته سنبل کوی

راغی پسرلی د ګلو زیری په بلبل کوی
وازه خوله نبولی عندلیب ورته خندل کوی

زرکه که تارودی که فمری او که مینادہ نن
ستائی پسرلی په بڼ کښی سیل دهر یو ګل کوی

شین چمن کښې ګرځی مدح خوان په ډېره مینه دی
ښه نسیم لګېږی ښه نڅا ورته سنبل کوی

توربورا په توره خوله دمینی ترانی وائی
سرې عنچی څیرلې ګریوان وینی تو یول کوی

چاوده دزړګی پسرغوټی شوه په ګلبوټی کښې
غم ئی دخزان ورته په زړه کښې داغ ایښول کوی

تور خال دلالا په مخ کښې هم لدغه غمه دی
ځکه ئی دهرچا په افسوس کښی ښکارول کوی

ګرځی په باغو کښې هلکان نجونه خوشحاله ټول
زېړاوسره ګلونه رنګارنګ په توراوربل کوی

لاس ترلاسه ګرځی دم په دم ناز اونخری کوی
توری زلفی ګوری په سپین مخ شرمول کوی

کله په خندا شی کله ټوکی مسخری د خیال
کله یوو بل ته اشارت او بل ښکنځل کوی

ګل دی که بورادی که بلبل په ګلشن یوځای شوه
ناست دی سید وفا په غم کښې ګیر دغم لیکل کوی

له فراه څخه

شاهمر دملیا

سور کفن له سر چاپېر کړی

شکر شکر چه بهار شو
وطن ټول ګل و ګلزار شو

سختی لاړه ژمی تیرشو
لکه تیره ورځ می هیرشو

یتیمان که غریبان وو
چه په ځان پوری حیران وو

نه بړستن اونه ئی اور وو
نه ئی ځا له نه ئی کور وو

له سړونه در پدر وو
له خپګانه کور او کر وو

اوس دی واړه خوشحالی کا
له خپل سیال سره سیالی کا

پسرلی راوړه ګلونه
دښو پېغلو امیلونه

که ورشوده که ډاګونه
که دی غرونه که رغونه

زرغونی جامی په ځان
خوشنما دی پری جهان

لاله داغ په ځیګر ایښی
سور کفن ئی په سر ایښی

پښتنو ته اشاره کړی
چه خپل حال ورته ښکار کړی

ورته وائی چه قربان شی
پښتنو زما په شان شی

سور کفن له سر چاپېر کړی
ځان دځان په وینو سیر کړی

غوټی وائی ځان آزاد کړی
دخپل پلار وطن آباد کړی

ملا مو وتړی محکمه
چه نور کښېننی بی غمه

ګیا هونه وائی تا ته
چه ته ښه وګوره ما ته

مونږ خزان ؤ له پخوانه
هیڅ خبر نه ؤ له ځانه

اوس مونوی ژوند آغاز کړ
دعزت مجلس مو ساز کړ

پا څه پا څیږه پښتونه
ځان خبر کړه له ژوندونه

څوبه پروت ئی نا خبره
دنیا ګوره لر او بره !

آخر ننګ غیرت پکار دی
نور غفلت زمو نږه عار دی

کاظم خان شیدا

(۹)

د همت علو د غیر احسان څه کا د ښو سا یه په ستر گه د نمر نشته

«شیدا» آب ئې دجودت هسی رنگ تېز دی
چه تسکین ته می د طبع لنگر نشته

هیڅ نقصان دساده حسن وجمال نشته د آفتاب په رخسارهم خط وخال نشته
چه بدل ئې په کچکول دمهتاب خوان کړ اعتماد د زمانې په کمال نشته
نښلو لی زمانې په کوم سبب یم لکه ژبه خو د زما پرو بال نشته
د کجل لکۍ ئې گوره شوخی ستر گې په داهسی خو بی شاخ د غزال نشته
هره لار ئې اژ دهادی جهان نغری وبور جل ته ئې د هر چامجال نشته
چه گره ئې د کوکب د کار وانکړه ولې نه وایې ناخن د هلال نشته
افروخته وی په کښې تل دحسن شمع دخاطر غوندی فانوس د خیال نشته

«شیدا» گوره هرطرف گلگونې او ښی
هیڅ خندا په دابهار کښې امسال نشته

پاتی نشوه په عالم کښی سر شته اوس به تخم د مرغانو شی کشته
د گوهر دانه په لاس دشواظ(۱) راغله د جوار په شان به زر شی برشته

د سختۍ په پیچ و تاب دمر د نرمی ځی
چه په دوك شی پنبه ځان کاندې رشته

دواړه لب دی په گفتار کړه څله بېرته که طوطی راغیء و قند مکرر ته
دحیرت جوهر نصیب دتیره زړه وی دفولاد بیضه کجا آئینه چر ته
په عطائې فی الحال والکه صدف کړه لاس چه ونیسی محتاج دتاو در ته

---

(۱) داور ملبه (غیاث اللغات)

و کاکل ته دې کافي درخسار گل دی حاجت نه لري و عطر و عنبر ته
نه کا شرم دیده واز له سر بزرگه برا بر گوری مرأت وسکندر ته
آفرین د هغه سر په عریانیه چه فرو نشه دستار و یا افسر ته

د سیماب غوند ئې گرېز کاله گرمیه
څه رنگ راشی هغه شوخ د «شیدا» بر ته

دجهان د گرم رو دستا ولوو ته (۱) لکه شمع نامه وسپارم واور ته
په داشان به خالی لاس ورځنی درومي تهی دست لکه حباب راغلی و کور ته
ښه مردان دبل په کار تمام مصروف وی بې کفنه لکه گنج درومی و گور ته
هرساعت وی تردورنگ له خجالته راشه و گوره د ستر گو سپین و تور ته
له تلخۍ ئې جام نسکور لکه حباب وړم چه راغلی یم ودې دریا ئې شور ته
مگر ته دخپل صورت په تزئین راغلې لکه تار د کښیده و دې انځور ته
دخدمن ډېری عقدې په آسیا حل شوې په یوه عقده ئې گوره ناقص مور ته

د «شیدا» نازك مضمون کودن ته لولې
دهلال رویت دې و سپاره شبکور ته (۲)

ماچه شا کړه دد نیا وخان و مان ته څه حاجت لرم ونور سرو سامان ته
شگفته به دې جبین وی تل بې چینه حوا له کړه د اغمونه و خاقان ته
خونخوازی دخپل جگر په ډېر راحت کړم هرگز نه راځی مگس زما وخوان ته
په رضائې یودم ایست په چمن نه وی ښه چه لاس واچاوه خارد گل دامان ته
ستادزلفو په لور زړونه خرام کاندی که دروم قافله درومی هند وستان ته

---

(۱) دجهان له گرم رووستارو لورته (اس)
(۲) داغزل د(پ) په نسخه کی نشته

ستا چشمان به څه نگاه کا په خاکسارو چه له کره دی بانه گوری آسمان ته

مبارکه شه پر تا د دنیا خونه .
آواره « شیدا » روان دی بیابان ته

بربر راشه د بهار تازه بسنته (١) تا نشاط راوړو هر د ښته وچمن ته
لباس هسې د عالم زعفرانی شو چه هر گل په خندا راغیء و گلشن ته
لکه مرغ د تنگ قفس شیدا بلبله په بیضه کښې کاهوس و پریدن ته
لکه نمر چه د غروب په هنگام زرد شی کړه نظر په دا لباس کښې گلبدن ته
گلدسته به په دستار د هر سیاح ږدې صحرا آچوی گلونه خپل دامن ته
د بلبل خاطر مایل په رنگین گل دی که په جام راغله مینا باده ریختن ته
له خجلته ئې باران د عرق اوری برق چه و گوری د گل رنگین خرمنته
ناظران ددې بهار په شان د گلو هیڅ محتاج د عطر نه دی پیرهن ته
مغنی کا دو بالا نشه د میو چه مستان کښېنې د بزم آراستن ته

« شیدا » ولی ئې صدف د محیط بولی
غوږ نیولی دی گوهر د تا سخن ته

چه تکلیف ئې نه وی هیڅ د تیغ چوگان ته لکه گوی بې تنه سر وړم و میدان ته
په سوخته سینه ئې ماته کړه بلبله که غنچه راوړی بیضه د گل آشیان ته
چه دا نه مې لکه گل په خرمن نشته د آسیا د پاره څه وایم آسمان ته
کشایش کاندې خاطر د هر چا جمع آشفته زلفی په مخ راشه پریشان ته
گلرخان له آئینې رو گردان نه وی ولی نه کوی نظر و خپل حیران ته
چه ئی سیر په تماشا نه شې د پر عمر د آهو سترگی پیدا کړه بیابان ته

« شیدا » تل وی گلنار گون په خونین اوښو
زه چه گورم لکه صبح چاك گریوان ته

---

(١) بسنت په هندی ژبه د پسرلی موسم ته وایی .

هسې زورو کړ سودا په رسوا دلته (١) چه پرشور لکه بازار شو صحرا دلته
تغافل ئې د نگاه کشنده تر دی په هدف لگی هر غشی خطا دلته
له شوخۍ دې دلبانو عجب نه دی که له ډېره شرمه آب شوه ضهبا (٢) دلته
ځی په بیع د او بو له ډېره آبه هر گز نشته د گوهر شناسا دلته
که ئې ووینی کبکان سختی د طبع په کهسار پوری به وکا خندا دلته

عاقبت به تورې خاورې د میدان شی
تل به کله وی جولان د شیدا دلته

نشته هېڅ په عشقبازۍ کښې د چا گټه سر به یو نسی د دې سودا له هټه
چه له تنه دې ایرې په تن پیدا شی ځان هله بوله ملنگ لکه سکروټه
که شربت د نیلوفر راشی په جوی کښې روغ به کله شی نرگس د باغ بې وټه (٣)
نه ئې د روند په شان (٤) د گلو گل اندامه د غنچې په طور خوب کوه بې کټه
تا به وې د برسات جهنده برق دی چه راغلی په شوخی وه ترین کهټه (٥)

گوره زور د افتاده چه تو رو خاورو
«شیدا» غر په تندی واخیست لکه گټه

څه افسون دی په ما و کړ پریزاده چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مې ډك لکه سپند دی شعله بویه چه د زړه په مراد و کړم څو فریاده
بهانه دې د غرض مگر شانه کړه ته ئې لاس وروړې وزلفو ته شمشاده
چه آواز دې د تېشې په کهسار نشته د شېرینې په طلب لاړې فرهاده

---

(١) داغزل د (پ) او (ح) په نسخو کی نشته .
(٢) انگوری شراب (بحر الجواهر) .
(٣) عیب او نقص .
(٤) په ښاخ (ح)
(٥) تن هر گټه (ح) .

په اسباب کښې مې زړه بند په اسباب نه دی د چمن په قید سرو ده آزاده
نتیجه ئې د دیدن عظیم آفت دی لکه برق شعله په لاس ووزی بیداده
چه په هر منزل کښې سرخوری لکه شمع د هغه ر هرو څه نفع ده له زاده
مهیاور ته قفس د شاخ گل کړه که څه رحم په بلبل کوې صیاده
په سختۍ کله امساک د دوات کیږی جوهر نه لحی په هیڅ وقت کښې له فولاده

همیشه ئې بیچ و تاب لکه جوهر دی
چه «شیدا» راغی تر دې حیرت آباده

چه لنبو ته د تنور په شان پیدا ده که پوهیږې د اسوخته سینه زماده
لکه ابر په هیڅ وقت نه شوې بې نمه هر ساعت زما پر ستر گو کښې ژړاده
خوش په شور لکه ساحل د سیلاب نه یم چه مې اینبې په عزلت د کور بناده
په سپین مخ ئې د عرق دانه لیده شی د سحر په وقت که ستر گه د صبا ده

فیض ئې نه لحی د همت په تنگدستۍ
خود ایدلې فواره شاه و گدا ده

څه دې زده لکه نرگس زماله در ده پوشیده مې په غنچه کړه گونه زرده
په رښتیاوی هر فریاد د سوختگانو د سپند ناله له سوزه په مجمر ده
اوس د ښکلو په طلب کښې صادق لیدشی د قلم غوندې بې سره ره نور ده
داوبو په شان روان په هسې لار شه چه دا سپینه لمن وساتې له گرده
په کښې عکس د خپل جاه نهایت وینی آئینه چه نن په لاس د سکندر ده
د دوران په سرد جوشۍ کښې عجب نه دی که لاله غوندې لنبه شی داور سرده

«شیدا» زه ئې منتخب د پښتو بولم
که دیوان دی مرتب دی په خو فرده

کړې چاپه خپل هنر خود نوازی ده په محمود باندې موقوفه ایازی ده
ددنیا نعمت ذ لیل کړې لکه زړی په خروج دې له مېوې سر فرازی ده
زه په سل مرګه یم مړ په ژوندانه کښې هر نفس مې لکه شمع سر بازی ده
دهدف په شان مې آه ترخولې و نه خوت که زده کړې دې په ماتیر اندازی ده
په ژوندون به لکه شمع دل سردنشم چه تر مرګ پورې زما جانګدازی ده (۱)
راست روئی مې لکه رخ نه ده پرې اینښې که فلك را سره کړې کج بازی ده
دیتنګ غوندې ئې تل په ماغضب دی چامې کړې شعله خو ته غمازی ده

راست ګویان لکه مرأت «شیدا» حیران دی
په هر لور دزمانې سخن سازی ده

داد خط جلوه په مخ د دلستان ده حاشیه که په نسخه د ګلستان ده
تلون ئې دمزاج دی شام وصبح خاص وعام ته ښکاره وضع د آسمان ده
کشایش دې په ګردش نشی آسمانه دپروین خوشه لابنده هغه شان ده
دحیوان چشمه ئې بولم انسان نه دی که جرعه ئې دساغر څښلې نادان ده
دد بګدان شعله ئې برق په داساعت کړه دخرمن سایه سا تلې غله دان ده
سیاهی ئې دچشمانو په شوخی کښې دغزال سایه پرته په سپین میدان ده

په میدان ددرباب ګوی «شیدا» حباب وړی
دبازی کمال خوبی د کوم انسان ده (۲)

دماهی غوندی سینه په خار افګاره هیڅ خبر نه یم له ګل وله ګلزاره
تپیدن می دسمك بسمل بې تیغه دخونریز توره به څه کوې آبداره
لکه نخل دبانه په جویبار خشك یم ماونه لید برګ و باز له نوبهاره

---

(۱) دابیت د (ا س) په نسخه کی نشته .
(۲) داغزل د «پ» په نسخه کی نشته

سرمی هیسی په صحبت دتن زهیر ؤ چه هر گزورته رانغی بیاله داره(۱)
ستر گی بورته په ادازما آفتاب کړي که فتنه شوه دسحر په وقت بیداره
همیشه سیه لباس چشمي داو ښو دفرهاد ماتم به څوك کابي کهساره
په ماباج دسلیمان لکه مور نشته په یوه دانه قانع یم له خرواره

اوس گردش بویه په کام د شیدا څرخه
هر گزنه گرزی آسیاد چابي واره

راشه نن په تماشا تازه بهاره ! چه گلشن درته پیشکش کایو څوهاره
ستاهمت خوقدم بوس دآسمان غواړی که دی عجز ورته نه رسی غباره
رهائی دي بیهوده گرزی په خیال کښي دم په خوداوسه دزلفو گرفتاره
ستادستر گو په گردش مي خاطر بندشو نقطه څه رنگ ځان بدر کاله پر کاره
په شرردي دنال سوزی زماخونه څه خوونیسه عنان دناز شهواره
دهر خط مضمون احوال دخوار فرهادو چه قاصد دزر کور اوړ له کهساره
څوك وشمع ته وردر ومی بي پتنگه لکه برق شعله په لاس ځی ستمگاره
څرخ هله دچاپه کام دڅرخ آسیاخوری چه میده کاد سرو نوڅو خرواره

سبزان کله وی همسر د گلر خانو
بیهوده راغیء «شیدا» ترهندو باره

بیادي مور کړه شمع خویه په چابوره چه دي کښېښوه اوږه باندي سره توره
رنگینی ئي په خون ریزد ډیر عالم وه ستالمن ده لکه گل په تختو گوره
په هزار نیشه دزړه په سر چیچل کا الغیاث د تاد ستر گوله زنبوره
همیشه لکه نرگس گوري آسمان ته ای دستر گو په ښایست باندي مغروره

(۱) دا بیت د (پ) له نسخي څخه را نقل شو .

ز غول می لکه نی مصلحت نه دی په سینه کښې می ناله پر ېږده مستوره
په جبین دې همېش چین داندوه وینم ماخوشحال چېرې و نه لیدی فغفوره
نادانۍ در ته بیضه وسیع جهان کړ دهوا په طیران پوه نه یی معذوره
ددنیا پست و بلند واړه تېر ېږی څه چاره دموج دبحر له عبوره

تادزړه په صاف دوربین کښې همېش وینی
که هرڅوئی له «شیدا» په هوا دوره

تهیه به د اسباب څه کوې گوره (۱) یو نفس لکه حباب را غلې تر کوره
په قرار کا جاذب خاك دنم غو گونو چه په دا دریاب کښې هېڅ نشته بې شوره
دماتم په خونین او ښو لعل گون دی څوك به څه وړی دپان برگ تر لب گوره
په کثرت مې دشستن کله ځان سپین کړه لکه ستر گې چېری خلاص نه یم له توره
ازاله مې د گرمۍ ساقی په آب کړه سوی زړه لکه شیشه را غلم له اوره
هیڅ خبر په حلاوت نه شوم د میو د آسمان پیاله په ما را غله نسکوره

چه ئې لاندې بحرو بر کړ «شیدا» واوره
همای کله په سر و کړ د نمر سیوره (۲)

گرمی نه کوی اثر په هرچا گوره په شعله کښې ده چشمه د آفتاب موره
برگ و بار ورته پېشکش لکه بهار کړه که خزان راشی کر یمه ستاتر کوره
مناسب له کارو بار سره تدبیر کړه کله درومی په آفتاب دپری سیوره
ستوده به په تمیز لکه مهتاب شی چه جدا کارو شنی له تنده اوره
چه په ورځ لکه فلك شمع سوزی کا درسته شپه ئې تیاره نه درومې له کوره

په فنادې خندا ورك روغن گل شو (۳)
زمانه په هسې شان د «شیدا» سپوره

---

(۱) داغزل د «پ» او «ح» په نسخو کی نشته .
(۲) داغزل د «پ» په نسخه کی نشته .
(۳) په فنادی دخندا روغن گل شو (ح)

په تیرو پنځلسو ورځو کښې د هیواد

مهمې پېښې

۞ زمونږ گران ټولواک اعلیحضرت معظم همایونی چه د حوت په (۲۸) نېټه ئې هیواد د امر لوېدو خواؤ د کتنو د پاره تشریف وړی ؤ ، وروسته له دې چه د ۳۵ ورځې ئې د سفر تکالیف او سختۍ وگاللی او له نژدې څخه ئې د خپل رعیت حال او احوال ولید او څو ورځې ئې په درهٔ اشرف کښې تېرې کړی نو د ثور په (۷) نېټه ئې په خیر او سلامتۍ سره کابل ته تشریف راووړ .

۞ د ثور په (۲) ورځ د نساجۍ د شرکت د فابریکې د بنسټ ایښودلو له کبله چه د گلبهار په شیر خان خیلو کښې جوړېږی د نساجۍ د عمومی شرکت له خوا یو لوی دعوت شوی ؤ ، چه هغه ته والاحضرت غازی سپه سالار صدر اعظم او والاحضرت مارشال شاه ولیخان د کابینې هیئت ، د وزارتو نمایندگان د پروان د اعلی حکومت علماء او لویان د معارف شاگردان او نور ډېر خلک چه څو زرو تنو ته رسیدل را غونډ شوی وو ، دا محفل د قرآن کریم د څو آیتو نو په تلاوت او د اعلیحضرت معظم همایونی د عمر داوږد والی او زمونږ د پښتونستانی ورونو د آزادۍ په دعا وپرانیستل شو او بیا چه ښی وینا گانی وشوې نو غازی والاحضرت صدر اعظم په خپل لاس د فابریکې د بنسټ ډبره کېښوده او داټولنه د ماز دیگر په درینیمو بجو خلاصه شوه .

۞ د ثور له (۹) نېټې نه را په د یخوا یو شمېر دولتی عالی رتبه مامورین ، د دلکشا په ماڼۍ کښې د اعلیحضرت معظم همایونی په حضور مشرف شوی دی .

۞ د ثور له (۱) نېټې نه را په د یخوا یو شمېر دولتی عالی رتبه مامورین ، مخور کسان د غازی والاحضرت صدر اعظم په حضور د صدارت عظمی په ماڼۍ کښې مشرف شوی دی .

۞ والاحضرت افخم سردار محمد هاشم خان د افغانستان پخوانی صدر اعظم چه څو موده پخوا امریکا ته تللی ؤ ، د ثور په (۱۰) ورځ په داسی حال کښې چه والاحضرت شاه ولیخان د کابل فاتح او والاحضرت سردار محمد داؤد خان او د شاهی کورنۍ نورو محترمو کسانو ئې هر کلی وکړ د ماشام په (۷) بجو کابل ته راورسېد .

۞ د مطبوعاتو د مستقل ریاست په پیشنهاد او د صدارت عظمی د لوړ مقام په منظورۍ ښاغلی احمدعلی خان درانی په ډیلی کښې د اعلیحضرت معظم همایونی د لوی سفارت پخوانی مطبوعاتی اتاشه د کابل راد یو د آمر په حیث او ښاغلی مولوی محمد شاه خان ارشاد د قندهار د ولایت د مطبوعاتو پخوانی مدیر د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مشاور په حیث او ښاغلی محمد محسن خان فیروز په کراچۍ کښې د اعلیحضرت معظم همایونی په لوی سفارت کښې د مطبوعاتی اتاشه په حیث مقرر شوی دی .

5
Copy

پته: پښتو ټولنه
کابل ..... افغانستان
د تیلفون لمبر
۲۰۴۷

د پښتو ټولنې نوی کتابونه

د پښتو قصې

په دې نامه د پښتو ټولنې له خوا په ښکلی قطع او ښایسته صورت یوه مجموعه په (۱٦٤) مخونو کښې له چاپ څخه راوتلې ده . په دې مجموعه کښې د پښتو خوږی قصې نکلونه ، ټوکې ټاکی . چیستانونه ، او معما گانی په ډېرو خوږو اوروانو الفاظو کښې راوړل شوی دی

ښایی چه د پښتو مینان ئی په لږ قیمت له پاڼو ځای څخه واخلی .

پښتونولی

دا کتاب چه په حقیقت کښی د پښتنو د دوداو دستور یوه ښایسته تابلوده د پښتو ټولنې له خوا په (۲۰٤) مخونو کښې سږ کال په ښایسته قطع چاپ شوی دی او د ښاغلی قیام الدینخان خادم اثر دی، ښه غوره مطالب پکښی لیکل شوی او راغونډ شوی دی ښائی چه له پاڼو ځای څخه ئی په لږ قیمت واخلیء .

داشتراك قیمت:	د کابل په ښار کښې	په دننه هېواد کښې	په نورو ملکو کښې
	۳٦ افغانۍ	٤۰ افغانی	٤ ډالر